religious influencers will be key to ensuring clear messaging to families about the importance and safety of getting their children vaccinated against poliovirus to protect them from this paralyzing disease. Lastly, the WHO EMRO Regional Committee on Polio Eradication and Outbreaks continues to oversee the Polio Legacy Challenge, a results-based financing framework that awards progress against key indicators toward polio eradication in regions of Afghanistan with funding for priorities of the Ministry of Public Health. This initiative is supported by donors including the governments of Saudi Arabia, UAE and Qatar, and managed by the Islamic Development Bank.

## MAINTAINING VIGILANCE AND DOCUMENTING PROGRESS

Afghanistan's poliovirus surveillance system is effective and responsive, comprised of both Acute Flaccid Paralysis (AFP) and environmental surveillance. AFP surveillance remains crucial to monitor progress towards interrupting wild poliovirus transmission, combining conventional health facility-based surveillance and a large community-based network for reporting cases. The reporting network is regularly reviewed, focusing on specialized medical facilities in national and provincial capitals. These are areas of significant risk due to the increased population density and movement. Utilizing electronic tools helps to enhance the effectiveness of quality surveillance activities where sub-optimal surveillance activities exist.

AFP surveillance is supplemented by environmental surveillance to detect poliovirus in wastewater, providing an additional layer of sensitivity for detecting the virus that is critical in the final stages of disease eradication.
Environmental sampling sites have expanded in recent years to ensure the programme's ability to quickly detect the virus in sewage, which provide a key signal as to where the virus is circulating and poses a risk of paralyzing vulnerable children in that area. All positive detections of the poliovirus, either case or environmental sample, are reported promptly, spurring rapid outbreak response following standard operating procedures. Key surveillance performance indicators have consistently met global standards.

In 2025, the programme will continue to expand and enhance desk and field surveillance reviews at the most local administrative levels. The programme will prioritize capacity building, integration, monitoring, and evaluation to continue enhancing surveillance sensitivity and address existing gaps effectively:
- Conduct a comprehensive review of existing environmental surveillance sites and expand sites based on observed trends and outbreaks
- Regularly update surveillance network for high-risk population groups and utilizing health facility contact data. This will be accompanied by active case findings and surveillance reviews.
- Leverage AFP surveillance to enhance monitoring of other vaccine-preventable diseases
- Revitalize and fully operationalize the Regional Surveillance Committees (RSC) and the National Expert Review Committee (ERC) for classifying inadequate AFP cases
- Raise community awareness about polio surveillance, remote monitoring, and enhanced search efforts in high-risk areas through NEOC call centre

- Operationalize polio direct detection laboratory for double testing of AFP stool samples
- Coordinate with Pakistan polio programme to discuss surveillance activities and take timely measures regarding cross-notified AFP cases, including possible joint investigations. This coordination will be critical for detecting and stopping all poliovirus across the two countries as an epidemiological block.

# MONITORING CHANGE

Successful implementation of the NEAP will be measured by epidemiological progress toward ending polio in Afghanistan, particularly in stopping transmission in the East Region by mid-year and slowing the outbreak in the South Region by end of year. High-level milestones will assess the effectiveness of the push, pull, advocacy and EPI strategies throughout the year:

- Push: 90% children under 5 years vaccinated against polio during each campaign
- Pull: At least 75% caregivers of children under 5 in high-risk provinces understand polio symptoms, transmission and prevention; intend to vaccinate their children against polio during a campaign; and report that they were aware of polio campaign sites and dates prior to the start of the campaign.
- Advocacy: Direct engagement of authorities at ministerial, provincial, and district levels in each polio campaign
- EPI: At least 30% routine immunization rates in highest-risk districts of the South: Kandahar City, Lashkargah and Nahr-e Seraj

Detailed indicators for the interventions of the Push and Pull strategies will be tracked by the NEOC Operations Working Group and Communications Working Group respectively as part of the pre-campaign preparedness meetings and post-campaign assessments.

**Annexures:**

Annexure I: Annual WPV1 case/ES+ counts
Annexure II: 2025 district-level risk categorization
Annexure III: 2025 SIA calendar
Annexure IV: Tables of strategic pivot activities by region
Annexure V: Comprehensive pull strategy 2025 with M&E framework

Annexure I:




Annexure II: 2025 district-level risk categorization

| Region | Province (map) | District (map) | District (map) |
|---|---|---|---|
| **WR** | Badghis | Qala-e-Naw | 1 |
| **NE** | Baghlan | Pul-e-Khumri | 1 |
| **SR** | Hilmand | Kajaki | 1 |
| **SR** | Hilmand | Lashkargah | 1 |
| **SR** | Hilmand | Musa Qala | 1 |
| **SR** | Hilmand | Nahr-e-Saraj | 1 |
| **SR** | Hilmand | Nawa-e-Barakzaiy | 1 |
| **SR** | Hilmand | Nawzad | 1 |

| | | | |
|---|---|---|---|
| **SR** | Hilmand | Reg-i-Khan Nishin | 1 |
| **SR** | Hilmand | Sangin | 1 |
| **SR** | Hilmand | Washer | 1 |
| **WR** | Hirat | Hirat | 1 |
| **CR** | Kabul | Kabul | 1 |
| **SR** | Kandahar | Arghestan | 1 |
| **SR** | Kandahar | Ghorak | 1 |
| **SR** | Kandahar | Kandahar | 1 |
| **SR** | Kandahar | Maywand | 1 |
| **SR** | Kandahar | Nesh | 1 |
| **SR** | Kandahar | Shah Wali Kot | 1 |
| **SR** | Kandahar | Shorabak | 1 |
| **SR** | Kandahar | Spin Boldak | 1 |
| **ER** | Kunar | Asad Abad | 1 |
| **ER** | Kunar | Dangam | 1 |
| **ER** | Kunar | Ghazi Abad | 1 |
| **ER** | Kunar | Shigal | 1 |
| **ER** | Kunar | Watapur | 1 |
| **ER** | Laghman | Mehtarlam | 1 |
| **ER** | Nangarhar | Bati Kot | 1 |
| **ER** | Nangarhar | Behsud | 1 |
| **ER** | Nangarhar | Dur Baba | 1 |
| **ER** | Nangarhar | Jalalabad | 1 |
| **ER** | Nangarhar | Kot | 1 |
| **ER** | Nangarhar | Nazyan | 1 |
| **ER** | Nangarhar | Surkh Rod | 1 |
| **SE** | Paktika | Barmal | 1 |
| **SR** | Uruzgan | Dehrawud | 1 |
| **SR** | Uruzgan | Khas Uruzgan | 1 |
| **SR** | Uruzgan | Shahid-e-Hassas | 1 |
| **SR** | Uruzgan | Tirinkot | 1 |
| **SR** | Zabul | Arghandab | 1 |
| **SR** | Zabul | Mizan | 1 |
| **SR** | Zabul | Qalat | 1 |
| **Total** | | | **42** |

Annexure III: 2025 SIA calendar




Annexure IV: Tables of strategic pivot activities by region

| **National activities** | -Creating media partnerships with proactive messaging<br>-Ensuring vaccine security<br>-Develop SoPs for influencers/enablers engagement, campaign quality checklists, tools for community engagement and capacity building packages<br>-Develop promotional materials<br>-Coordinate with NEOC TWGs (technical working groups)<br>-Crisis communication | |
|---|---|---|
| **Region** | **East** | **South** |
| **Activities** | -Develop detailed operational plans including:<br>-Media round tables with local influencers<br>- increase female mobilizers and develop training plans and conduct trainings of FLWs in IPC and use of child registration books<br>-Print and disseminate promotional materials as per the target audience | -Develop detailed operational plans including:<br>-Media round tables with local influencers<br>-Develop and implement IPC training plans for FLWs<br>-Organize influencers orientation and engagement through NIAG members<br>-Develop promotional materials as per the target audience |

| | | |
|---|---|---|
| | -Advocacy efforts with district authorities through task forces<br>-Tools and SoPs for community influencers with operation teams<br>-Collaborate with SBC for community engagement sessions to leverage community networks (grandmother groups, youth volunteers)<br>-Promotion and utilization of call center<br>-Revision and utilization of M&E data collection tools<br>-Develop promotional materials as per the target audience | -Advocacy planning with district authorities through task force<br>-Collaborate with SBC to leverage community networks (grandmother groups, youth volunteers)<br>-Work with districts and clusters to implement pull strategy in HR districts<br>-Promotion and utilization of call center<br>-Revision and utilization of M&E data collection tools |
| **Province** | **Nangarhar**<br>Kunar, Laghman | **Hilmand, Kandahar**<br>Urozgan, Zabul |
| **Activities** | -Media round tables with local influencers<br>-Promotion and utilization of call center<br>-Polio awareness survey (PAS)<br>-Implement formative research and rapid assessments to evaluate new interventions and inform strategies | District governor advocacy meetings and task force meetings at PHD<br>-Health education sessions by FMVs before and during campaign<br>-Community meetings by elders before the campaigns<br>-Piloting the innovation of community leaders and youth groups identification and orientation and engagement during campaign<br>-Promotion and utilization of call center<br>-Polio awareness survey (PAS)<br>-Implement formative research and rapid assessments to evaluate new interventions and inform strategies |
| **District** | **Jalalabad, Behsud** | **Kandahar** |
| **Activities** | -Strategic utilization of complementary approaches (ISD) to attract caregivers to vaccination sites<br>-Health education sessions by FMVs in the health facility<br>-Organize community engagement sessions between campaigns<br>-Advocacy meetings by district Governors for community elders | -Strategic utilization of complementary approaches (ISD, pluses) to attract caregivers to vaccination sites<br>-District governor advocacy meetings and task force meetings at PHD<br>-Organize health education sessions by FMVs<br>-Community meetings by elders before the campaigns |

| | | |
|---|---|---|
| | -During campaign support to resolve refusals and find missed children | -Piloting the innovation of community leaders and youth groups identification and orientation and engagement during campaign |

Annexure V: Scan the QR code to access the comprehensive pull strategy 2025 with M&E framework.

# ملي بيړنی عملیاتي پلان ۲۰۲۵

## کاري سند

۱ جولای ۲۰۲۵ - ۳۰ جون ۲۰۲۶

## لړلیک


سریزه ........ ۳
لنډیزونه ........ ٤
اپیډیمولوژي – د وضعیت لنډه کتنه ........ ٦
د اوسني وضعیت (EPIDEMIOLOGY) لاملونه ........ ٦
د محل‌په‌محل (S2S) کمپاینونو سره د واکسین تګلارو بیا تنظیم ........ ۷
د تګلارې د بیا تنظیم اړتیا ........ ۷
د بریا تعریف ........ ۸
د ناروغۍ خپرېدو د مخنیوي لپاره د ټولنې د معافیت لوړ حد ته رسېدل ........ ۹
د واکسین فعالیتونه ........ ۹
د خطر درجه‌بندي ........ ۱۰
د اقداماتو مهمې موضوعي ساحې ........ ۱۰
پرله‌پسې څارنه او د پرمختګ ثبت ........ ۱۷
د بدلون څارنه ........ ۱۸

# سریزه

## د عامې روغتیا د وزیر پیغام

افغانستان د پولیو لـه منځـه وړلـو پـه لـور د پـام وړ پرمختګونـه کـړي او دا یـې ښـودلې چې په ټولو سیمو کې د دې ناروغـۍ د خپرېـدو د مخنیوي وړتیـا لـري. خـو سره لـه دې، لا هـم ډېـر کار تـه اړتیـا ده څـو هر ماشـوم ته واکسـین ورسـېږي، ځکه مـوږ د نړۍ له هغـو دوو هېوادونـو څخه یو چې د پولیـو وحشي ویـروس پهکـې شـته. دغـه وضعیـت لـه یـوې خـوا زمـوږ پـه وړانـدې د شـته ننګونـو ځرګندونه کـوي او له بلې خـوا زموږ ګډ مسـوولیت را یـادوي چـې بایـد د دغـو خنډونـو د لرې کولـو لپاره لاس په کار شـو.
د ۲۰۲۵ ز کال ملي بېړنـی عملیـاتي پلان (NEAP 2025) زمـوږ د بریـاوو پـر بنسـټ جـوړ شـوی او د نن ورځـې د پېچلي عملیـاتي وضعیت له واقعیتونو سره د مقابلـې لپـاره طرحـه شـوی دی. دا پلان د تېـرو کلونـو شـاتګ - پـه ځانګـړي ډول پـه ختیـځ او سـویل کـې د پولیـو خپرېـدو پېښـې - پـه نښـه کـوي او د شـواهدو پـر بنسـټ یـوه پیـاوړې تـګلاره وړانـدې کـوي چـې د محـل په محـل واکسـین د تطبیق اغېـز زیاتوي، د لوړ خطر په سیمو کې د منظـم واکسـین پروګـرام پیـاوړی کـوي او پـه ټولنیـزو، ملي او د پولـې پورې غـاړې په کچـو د همکارۍ اړیکـې لا ټینګوي.
دا پلان د عامـې روغتیـا وزارت ژمنـه ځرګنـدوي چـې د پولیـو لـه منځه وړلو نړۍوال نوښـت (GPEI) سره په نږدې همغږۍ د افغانسـتان هر ماشـوم د دې مخنیـوي وړ ناروغـۍ څخـه خونـدي کـړي. پـه پلان کې روښـانه موخې ټاکل شـوې څـو په ختیځ کـې د ناروغۍ خپرېدل ودرول شي، په سـویل کـې یـې خپرېـدل ورو او بیرتـه کـم شي او دغه راز د هېواد په نورو سـیمو کې ترلاسـه شـوې بریاوې خوندي وسـاتل شي.
مـوږ د ټولو ولایتونـو او ولسـوالیو لـه چارواکـو، روغتیایـي کارکوونکـو، د ټولنـې لـه مشرانـو، دینـي عالمانـو، د پولیـو لـه منځه وړلـو نړۍوال نوښـت او د بشري مرسـتو لـه نـړۍ والـو شریکانـو غوښـتنه کـوو چـې دا پلان پـه بېـړني ډول پـه پـوره یـووالي پلی کـړي. له افغانسـتان څخـه د پولیـو ناروغـۍ ورکـول شـوني دي، خـو هغـه مهـال بریـالي کېـدای شـو چـې پـه ګـډه، پرېکنده او بې له ځنډه اقدام وکړو.
د افغانسـتان اسـلامي امـارت خپلـه ژمنـه بیـا تـازه کـوي چـې د خپـل تـوان تـر وروسـتي بریـده بـه هـر راز هڅـې کـوي څـو لـه هېـواد څخـه د پولیـو ناروغـي پـه بشـپړه توګـه لـه منځـه یـووړل شي. مـوږ له خپلـو تخنیکي او مـالي شریکانو غوښـتنه کوو چې خپله مرسـته دوامداره او پیاوړې وسـاتي، څـو وکـولای شـو پـه ګـډه هـر ماشـوم خونـدي کـړو او راتلونکو نسـلونو تـه له پولیـو څخـه پـاک او روښـانه راتلونکې ډاډمـن کـړو.
راځـئ، د ۲۰۲۵ کال دا ملي بېړنـی عملیـاتي پلان (NEAP) د لارې نقشـه او خپلـه ګـډه ژمنـه وګرځـوو، څو ډاډه شـو چې په افغانسـتان کې نور هېڅ ماشـوم د پولیـو ناروغـۍ له امله فلج نه شي.

الحاج مولوي نورجلال جلالي
د عامې روغتیا وزیر
د افغانستان اسلامي امارت



## لنډیزونه

| | |
|---|---|
| AFP | حاد نرم گوزڼ |
| APMIS | د افغانستان د پولیو معلوماتو د مدیریت سیستم |
| ARCS | د افغاني سرې میاشتې ټولنه |
| bOPV | د گوزڼ د دوو ډولونو ضد د څاڅکو واکسین |
| CVDPV | له واکسین څخه رامنځ ته شوی گرځېدونکی پولیو ویروس |
| EMRO | د ختیځې مدیتراني یې سیمه ییز دفتر |
| EOC | د پولیو بېړنی عملیاتي مرکز |
| EPI | د کتلوي معافیت پروگرام |
| ERC | د متخصصینو د بیاکتنې کمېټه |
| fIPV | د پولیو زرقي واکسین جزوي بنه |
| FLW | د لومړۍ کرښې کارکوونکي |
| FMV | ښځینه ټولنیزه هڅوونکې/ واکسیناتوره |
| GPEI | د پولیو له منځه وړلو نړۍوال نوښت |
| HRMP | له لوړ خطر سره مخ گرځنده نفوس |
| IAG | اسلامي مشورتي ډله |
| ICM | د کمپاین د جریان څارنه |
| IDPs | په کور دننه بې‌ځایه شوې کورنۍ/ وگړي |
| IOM | د کډوالۍ نړۍواله اداره |
| IPV | د پولیو غیر فعال زرقي واکسین |
| LQAS | د لاټ کیفیت ډاډمنولو نمونه اخیستنه |
| NEOC | د بېړنیو عملیاتو ملي مرکز |
| NIAG | ملي اسلامي مشورتي ډله |
| NGO | غیر دولتي موسسه |
| NEAP | ملي بېړنی عملیاتي پلان |
| NID | د واکسیناسیون ملي ورځې |
| nOPV2 | د پولیو نوی د څاڅکو واکسین/ دویم ډول |
| OCHA | د بشردوستانه چارو د همغږۍ لپاره د ملگرو ملتونو دفتر |
| OPV | د گوزڼ ضد د څاڅکو واکسین |
| PCM | د کمپاین څخه وروسته څارنه |
| PEI | د پولیو له منځه وړلو نوښت |
| PHD | د عامې روغتیا ریاست/ د عامې روغتیا رییس |
| PTT | دایمي ټرانزیتي ټیم |
| REOC | د پولیو له منځه وړلو حوزوي بېړنی عملیاتي مرکز |
| RI | د ماشومتوب دورې واکسینونه |
| RRL | د پولیو پېښو ریفرنس/ حوالې سیمه ییز لابراتوار |
| SBCC | د ټولنیز او چلند د بدلون اړیکه او د عامه پوهاوي پروگرام |
| SIA | د خونديتوب تکمیلي کړنې/ د پولیو واکسین کمپاینونه |
| TAG | تخنیکي مشورتي ډله |
| UN | ملگري ملتونه |
| UNHCR | د کډوالو لپاره د ملگرو ملتونو عالي کمېشنر |

| | |
|---|---|
| UNICEF | د ملګرو ملتونو د ماشومانو د ملاتړ صندوق |
| tOPV | د ګوزڼ د دریو ډولونو ضد د څاڅکو واکسین |
| WASH | روغتیا ساتنه، پاکوالی او اوبه |
| WHO | د روغتیا نړۍوال سازمان |
| WPV | وحشي پولیو ویروس |

## اپیډیمولوژي - د وضعیت لنډه کتنه

افغانستان پـه وروسـتیو کلونـو کـې د پولیـو لـه منځـه وړلـو په لور د پام وړ پرمختګونه کړي او څو ځله یې ښـودلې چې په هېواد کـې د پولیو ویروس خپرېـدو د مخنیـوي وړتیـا لـري، هغـه هـم پـه بېلابېلـو وختونو او سـیمو کې. خو افغانسـتان لا هم د نړۍ له هغـو دوو هېوادونو څخـه دی چې پولیو پکـې پـه بشـپړه توګـه لـه منځـه نـه دی تللـې، ځکـه د ویـروس د خپرېـدو د مخنیـوي لاسـته راوړنـې پـه ټول هېـواد کې یـو ډول نـه دي، او نـه هم د پاکستان د وضعیت لـه بدلونونـو سره سـمون لـري. لـه همـدې املـه د دواړو هېوادونـو په ګـډه وبایي حوزه کـې د پولیـو د خپرېدو پېښـې دوام لري. پـه افغانسـتان کـې د پولیـو د لـه منځـه وړلـو پروګـرام پـه ۲۰۲۱ او ۲۰۲۲ کلونو کې د بشـپړ هدف ترلاسـه کولو ته ډېر نږدې شـوی و، چې په ترتیب سره یـوازې څلور او دوه پېښـې ثبت شـوې وې.

پـه تېـرو درې کلونـو کـې د پولیـو ناروغـۍ لویـې خپرېدنـې - د ۲۰۲۲ ز کال پـه منځ کې په ختیځ زون کـې، د ۲۰۲۳ کال په منځ کې په سـوېلي زون کـې، او د ۲۰۲۴ کال پـه اوږدو کـې پراخـې خپرېدنـې - د پروګرام لاسـته راوړنـې ببرتـه شـاته کړې دي. پـه ۲۰۲۴ کال کې د پولیو ویـروس له امله ۲۵ ماشـومان فلـج شـول چـې ډېری یـې پـه سـوېلي زون کـې وو، او همدارنګـه پـه دغـه کال کـې د هېـواد په کچـه د پولیـو ویـروس ۹۲ چاپېریالي نمونې ثبت شـوې.

د ۲۰۲۴ کال پـه منځ کـې، لـه کندهـار ښـار پرتـه، پـه ټـول هېـواد کـې د کور پـه کـور د واکسـین ملي کمپاینونو تـه اجازه ورکړل شـوه، چې له امله یې په تاریخ کې په بې‌ساري ډول ډېر ماشـومان واکسـین شـول. دغه اقدام د ۲۰۲۴ کال په جولای میاشـت کې د ۸۹ سـلنې پوښـښ سـبب شـو. خـو دا پرمختـګ ډېـر دوام و نـه کـړ، ځکـه د همدغـه کال په سـپتمبر میاشت کې کور په کـور کمپاینونه ودرول شـول.

لـه کـور پـه کـور (H2H) څخـه محـل پـه محـل (S2S) بڼـې تـه د کمپایـن بدلـون د هغو ماشـومانو شـمېر پـه څرګنـد ډول زیات کـړ چې له واکسـینه پاتـې کېـږي، او د ټولنیـزو او نفوس‌پوهنیـزو پېچلتیـاوو لـه املـه، چـې د ویـروس د خپرېـدو مخنیـوی یـې لـه ورانـدې سـتونزمن کـړی و، دا حالت له لا زیاتـو ګواښـونو سره مخ کـړ. تمـه کېږي چې دا وضعیت بـه لـه پاکسـتان او ایـران څخـه د بېرتـه راسـتنو شـوو کډوالو د پراخـې څپې لـه امله لا پسـې جدي شي.

کـه څـه هـم تـر ټولـو اغېزناکـه لار دا ده چـې بېرتـه د کـور پـه کـور واکسـین کمپاینونـو بڼـې تـه سـتانه شـو، خـو اوسـمهال یـوازې د محل پـه محل کمپاینونـو بڼـې تـه اجـازه ورکړل شـوې ده.

اوسـنی وبایـي وضعیـت ښـیي چـې پـه سـوېلي زون کـې د پولیـو د خپرېدو کچه پـه زیاتېـدو ده، هلته د پولیـو ویروس په وړانـدې د ډېرو ماشـومانو د حساس پاتـې کېـدو او لـه کلونـو راهیسـې د کمپایـن د بڼې پـر محدودیتونو د معافیت تشـې پراخېدو له امله وضعیت اندېښـمن دی. لـه نیکه مرغه، د پروګـرام نـوو او نوښـتګرو لارو چـارو پـه ختیـځ زون کـې د پولیـو ویـروس د خپرېـدو پېښـو پـه کمېدو کې مرسـته کـړې ده. (د افغانسـتان د WPV1 کلنیـو پېښـو شـمېر د ضمیمې پـه برخه کې لیدلای شـئ.)

سږنی، ۲۰۲۵ کال د ملي بېړني عملیـاتي پلان لـه مخـې، د پولیـو لـه منځـه وړلـو تګلاره بـه د محل په محل S2S کمپایـن بڼې د اغېـز لوړولو او اضافـي وسـایلو او شراکتونـو لـه کارولـو څخـه پـر اعظمـي ګټـې اخیسـتنې تمرکز وکـړي، څو تر ټولـو ډېرو ماشـومانو ته د رسېدو زمینه برابـره شي او ډاډ ترلاسـه شي چـې ټـول ماشـومان له دې فلجوونکـې ناروغۍ څخـه خوندي دي.

د ۲۰۲۵ کال ملي بېړنـی عملیـاتي پلان (NEAP) بـه د پولیـو لـه منځـه وړلـو نـړۍ‌وال نوښـت (GPEI) سره د افغانسـتان د چارواکـو د همغږې شـوې همکارۍ لـه لارې پلـی کېـږي، چـې مشري بـه یـې د عامـې روغتیـا وزارت د بېړنیـو عملیاتو مرکز (EOC) کـوي. د پلان د مالکیـت د تضمین لپاره بـه د ولایتونـو والیـان او د عامـې روغتیـا ریاسـتونه پـه خپلـو ولایتونـو کـې د NEAP په پلي کولـو کې مخکښ رول ولوبوي.

## د اوسني وضعیت (EPIDEMIOLOGY) لاملونه

کـه څـه هـم پـه تېـرو لسـو کلونـو کـې د افغانسـتان د ۴۰۰ ولسـوالیو لـه جملې پـه ۱۳۵ ولسـوالیو کـې د پولیـو ناروغۍ هیڅ پېښـه نه ده ثبت شـوې، خـو پـه سـوېل او ختیـځ زونونـو کـې ځینـې سـیمې د دغـه ویـروس د خپرېـدو شـاهدې دي. دغه وضعیـت د ټولنیـزو او ډیموګرافیکي فکتورونـو د توپیر او د پروګـرام د اجـرا کچـې د بدلـون لـه املـه رامنځتـه شـوی، چـې تر ټولو مهـم یې په لانـدې ډول دي:

۱. **د نفـوس ډېروالـی:** د پولیـو ویـروس، د ډېـرو نـورو سـاري ناروغیـو پـه څېـر، په هغو سـیمو کې پـه دوامدار او شـدید ډول خپرېـږي چې نفوس یـې ډېـر وي، لکـه څنګـه چـې پـه لانـدې نقشـه کـې ښـودل شـوي دي. پروګرام د هېـواد په کچـه د بېلابېلو جغرافیوي سـیمو د خطـر کټګورۍ پـه ټاکلـو کـې د متمرکـزو اقداماتـو لپـاره د وګړو ګڼوالـی په پام کـې نیولی دی.

۲. **د کمپایـن بڼـه:** د کمپایـن د بڼـې محدودیتونـه چـې لـه واکسـین څخـه د ماشـومانو د پاتـې کېدو لامـل کېږي او پـه پایله کې د معافیت تشـه پراخـوي، د پولیـو ویـروس د دوامـداره خپرېـدو یـو مهـم عامـل دی. د «محل په محل» کمپاین بڼه د کورونـو د دروازو ټکولـو او له خلکو سره

د مخامخ خبرو محدوديت لري، له همدې امله هغه کوچني ماشومان چې لا پر خپل پښو ولاړ شوي نه وي، ډېر امکان لري له واکسين څخه پاتې شي؛ دا کار د نه واکسين شوو ماشومانو ټولګه زياتوي، په ځانګړې ډول د زيان‌منونکي عمر په ګروپ کې. د نه واکسين شوو ماشومانو دا زياتېدونکې شمېره د پوليو ويروس د دوام او لا پراخېدو خطر زياتوي.

۳. **له لوړ خطر سره مخ ګرځنده نفوس (HRMPs):** ګرځنده ټولنې، په ځانګړي ډول کوچيان، د اوږده مزل مسافر، او هغه اوسېدونکي چې د نړۍ‌والو پولو دواړو خواوو ته تګ راتګ لري، ډېر امکان لري چې له وقايوي روغتيايي خدماتو، په ځانګړي ډول د پوليو له واکسين څخه پاتې شي؛ ځکه د دوی دوامداره خوځښت ډېری وخت دا ستونزمنوي چې په روغتيايي پروګرامونو کې شامل شي. د افغانستان او پاکستان ترمنځ د خلکو پراخ تګ راتګ د کرښې په دواړو غاړو کې د پوليو ويروس د پرله پسې خپرېدو لامل شوی، چې د دواړو هېوادونو د پوليو ناروغۍ له پېښو څخه د ترلاسه شوې جينيټيکي ازموينو پايلې د دغو ويروسونو نږدې تړاو ثابتوي.

٤. **د کتلوي معافيت پروګرام (EPI) ټيټ پوښښ:** که څه هم معمول واکسينونه (د ماشومتوب دورې واکسينونه) بايد د پوليو د له منځه وړلو هڅو بنسټ وي، خو هغه سيمې چې د پوليو واکسين په کمپاينونو کې ټيټ پوښښ لري، معمولاً د نورو واکسينونو په پروګرامونو کې هم د ټيټ پوښښ ستونزه لري، ځکه چې د اجراآتو ورته ستونزې لري. د کتلوي معافيت پوښښ په هغو سيمو کې تر ټولو ټيټ دی چې د پوليو ويروس د خپرېدو له پلوه تر ټولو زيان‌منونکې ګڼل کېږي. د بېلګې په توګه، د (MICS 2022-23) سروې ښودلې چې په کندهار کې د کتلوي معافيت پروګرام له لوري د معمول واکسينونو د پوښښ کچه ۲۹ سلنه، په ارزګان کې ۳ سلنه، او په هلمند کې ۸,۶ سلنه ده، چې ياد شوي درې واړه ولايتونه د پوليو ويروس د خپرېدو له پلوه د لوړ خطر سيمې ګڼل کېږي.

## د محل‌په‌محل (S2S) کمپاينونو سره د واکسين تګلارو بيا تنظيم

### د تګلارې د بيا تنظيم اړتيا

د ۲۰۲٤ کال په مې مياشت کې، د رئيس‌الوزرا له خوا اعلان وشو چې (د امنيتي انديښنو له امله له کندهار ښار پرته) به په ټول هېواد کې کور په کور (H2H) د واکسين کمپاين ته اجازه ورکړل شي. دا د پوليو له منځه وړلو پروګرام لپاره يوه مهمه لاسته راوړنه وه، ځکه کور په کور کمپاينونه لا هم د پوليو له منځه وړلو لپاره «طلايي معيار» ګڼل کېږي او تر اوسه په ټولو هغو هېوادونو کې، چې پوليو په کې له منځه وړل شوې، له همدې تګلارې کار اخيستل شوی دی. دا په ځانګړې ډول د سوېل زون لپاره يو مهم پرمختګ و، ځکه هلته کلونه د واکسين کمپاينونه يوازې تر جوماتونو/ محلونو محدود و او د پوښښ کچه يې کمه وه.
خو د ۲۰۲٤ کال په سپټمبر مياشت کې د کورنيو چارو وزارت د يوې رسمي اعلاميې له لارې خبر ورکړ چې د پوليو واکسين کمپاينونه بېرته محل په محل بڼې ته محدود شول. د محل په محل بڼې واکسين کمپاينونو تکيه کول دا احتمال زياتوي چې د پام وړ شمېر ماشومان له واکسين څخه پاتې شي، په ځانګړي ډول د يو کال عمر لرونکي تر ټولو ډېر زيان‌منونکي ماشومان. د تېرو کمپاينونو د نظارت/ څارنې شواهد ښيي چې د جومات په جومات يا محل په محل بڼې کمپاين لرونکو ولسواليو کې د واکسين پوښښ د کور په کور بڼې په پرتله ټيټ دی.
خو له دې سربېره به د پوليو پروګرام پر دې تمرکز وکړي چې د منظور شوې محل په محل S2S بڼې کمپاينونو اغېز تر اعظمي کچې لوړ کړي، څو په افغانستان کې د امکان تر حده ډېر ماشومان خوندي شي او د ويروس خپرېدو لړۍ ودرول شي. دا بدلون به دې ته اړتيا ولري چې د هېواد په بېلابېلو جغرافيوي سيمو کې به په ځانګړو ځايي شرايطو برابرې طريقې وکارول شي.

ختيځ زون چې په ۲۰۲۲ او ۲۰۲۳ کلونو کې د پوليو ويروس د خپرېدو اصلي مرکز ګڼل کېده، د پروګرام په عملياتي برخه کې د اصلاح او اغېزناکتوب له مخې د پام وړ پرمختګ کړی دی. دا پرمختګ د نږدې ټولو ښځينه مبلغينو د نه ستړې کېدونکو هڅو له برکته ممکن شوی دی. دوی د ميندو او کورنيو د قناعت او ګډون لپاره له کور په کور مخامخ خبرو کار اخيستی، د ټولو وړ ماشومانو د واکسين لپاره يې دقيق مايکرو پلانونه او د ماشومانو د ثبت کتابچې نوې کړې دي، او د کمپاينونو پر مهال يې د واکسين لپاره په دقت سره داسې ثابت ځايونه ټاکلي چې خلکو ته نږدې او د ټولو ماشومانو د پوښښ لپاره مناسب دي.
د دغو هڅو په پايله کې، په ختيځ زون کې د پوليو ويروس د خپرېدو د مخنيوي په لور ستر پرمختګ شوی او دا فرصت برابر شوی چې په دې سيمه کې د پوليو بومي خپرېدل په بشپړه توګه پای ته ورسېږي. سره له دې چې په ختيځ کې پرمختګ نازک دی، نو اړتيا ده چې هڅې چټکې شي څو دا سيمه د ويروس له ټيټې کچې خپرېدو څخه صفر کچې ته ورسول شي.
مهم ګامونه چې دا بدلون ګړندی کولای شي؛ د کمپاينونو ستراتيژيک تنظيم، د GIS په مرسته د ټيټ فعاليت لرونکو ساحو په نښه کول، په سيمه‌ييزه کچه د اغېز لرونکو څېرو ښکېلول څو د ټولنې ونډه لوړه او د واکسين ردولو ستونزې حل شي، او د امکان تر بريده د ښځينه کارکوونکو شمېر زياتول دي. تمه ده چې د دغو لومړيتوب لرونکو اقداماتو د ګړندي پلي کېدو له لارې به د ۲۰۲۵ کال تر نيمايي پورې به

ختیځ زون کې د پولیو بومي خپرېدل ودرېږي.
سویلي حوزه لا هم په افغانستان کې د پولیو ویروس خپرېدو له پلوه تر ټولو لوړ خطر لرونکې سیمه ده، چې په تاریخي توګه د هېواد په کچه د ویروس د زېرمې او خپرېدو د پیاوړي مرکز په توګه پېژندل کېږي. د دې سیمې د وګړو د معافیت کچه د معمول واکسینونو د کمزوري سیستم له امله ټیټه ده، او په تېرو کلونو کې د جومات په جومات او محل په محل واکسین کمپاینونو د محدود پوښښ له امله، د پولیو په ناروغۍ د اخته کېدو له پلوه د لوړ خطر لرونکو ماشومانو شمېر مخ په زیاتېدو دی.
په سویلي زون کې د پولیو کمپاینونه د تر ټولو سختو محدودیتونو لاندې ترسره شوي، چې له امله یې تر پنځو کلونو د کم عمره ماشومانو د شمېر او ځایونو معلومول، د ښځینه کارکوونکو د نشتوالي له امله له میندو سره مخامخ تماس، او د محل په محل بنې واکسین کمپاینونو د اغېز لوړول له ستونزو سره مخامخ دي.
د معافیت ټیټې کچې او د پروګرام په وړاندې شته محدودیتونو سویلي زون په پراخ او شدید ډول د پولیو ویروس خپرېدو له ګواښ سره مخ کړی، چې یوازې د سویل نه، بلکې د ټول هېواد زیان‌منونکي ماشومان اغېزمنولای شي. د دغه خطر کمولو او نورو سیمو ته د ناروغۍ د خپرېدو د مخنیوي لپاره، د پولیو له منځه وړلو تګلارې بدلون او د محل په محل کمپاینونو اغېزناکتوب، او همدارنګه د پولې پورې غاړو کې کې د واکسیناسیون پیاوړتیا، په ځانګړي ډول د سویل لپاره خورا اړینه ده.
د ۲۰۲۵ کال د پولیو له منځه وړلو تګلاره به هم پراخ شرایط په پام کې ونیسي چې په کې د سیمې او نړۍ بدلېدونکي جیوپولیټیکي وضعیت، له پاکستان څخه د بېرته راستنېدونکو کډوالو احتمالي لوېه څپه او د GPEI بودیجې کمېدل شامل دي. که افغانستان په ۲۰۲۵ کال کې د اپیډیمولوژیکي وضعیت په ښه والي کې د پام وړ پرمختګ و نه ښیي، نو د بسپنه ورکوونکو د سترړیا له امله به د بودیجې کمښت لا پسې جدي شي.
دا سند په افغانستان کې د پولیو له منځه وړلو د مهمو پړاوونو، د محل په محل کمپاین د بنې د اغېز لوړولو لپاره د کلیدي اقداماتو او د پوښښ د اعظمي کولو لپاره د مرستندویه لارو چارو په لوړه کچه کتنه وړاندې کوي، او د پرمختګ د څارنې پلانونه تشریح کوي، چې د اپیډیمولوژیکي څارنې (surveillance) او د پروګرام پلي کېدو (M&E) له مخې ارزول کېږي. دغه اقدامات او پلانونه به د اپیډیمولوژیکي وضعیت او شرایطو د بدلون له مخې تنظیمېږي.

## د بریا تعریف

د افغانستان د پولیو پروګرام موخه دا ده چې د پولیو ویروس د له منځه وړلو او له پولیو څخه د پاک راتلونکي د ډاډمن کولو له لارې د هېواد ټول ماشومان خوندي کړي. د دغه هدف د ترلاسه کولو لپاره باید د ویروس اوسنی خپراوی په لنډ وخت کې تر کنټرول لاندې راوستل شي.

پروګرام موخه لري چې د تخنیکي مشورتي ډلې (TAG) د سپارښتنو له مخې د ۲۰۲۵ کال تر نیمایي پورې د لاندې پړاونو په ترلاسه کولو سره په ختیځ زون کې ترلاسه شوې بریاوې خوندي کړي او په سویلي زون کې د ویروس خپرېدو بهیر ورو کړي:

- **ختیځ زون:**
  - د پولیو ناروغۍ نوې انساني پېښې WPV1 باید رامنځته نه شي.
  - په مثبتو چاپېریالي نمونو کې د ویروس د نسلي اړیکې کومې دوامداره نښې و نه موندل شي.
- **سویلي زون:**
  - د پولیو نوې پېښې رامنځته نه شي.
  - په چاپېریالي نمونو کې د WPV1 د مثبتو موندنو د شمېرې کمېدو څرګنده لړۍ رامنځته شي.
- **د هېواد نورې سیمې:**
  - د پولیو ویروس سیمه‌ییز خپرېدل رامنځته نه شي.

د NEAP د څارنې او ارزونې (Monitoring & Evaluation) په برخه کې نور تفصیلي شاخصونه هم شامل دي چې د بېلابېلو فعالیتونو د بریا د کچې د ارزونې لپاره ټاکل شوي دي.
- د عملیاتو شاخصونه: د بېلګې په توګه، په سویلي زون کې باید د ۲۰۲۵ کال تر نیمایي پورې لږ تر لږه ۵۰ سلنه LQAS د بریا کچه ترلاسه شي.
- د ټولنې د ښکېلتیا شاخصونه: د بېلګې په توګه، د پولیو په کمپاینونو کې لږ تر لږه ۷۵ سلنه میندې او د ماشومانو سرپرستان باید د واکسین

د ارزښت او ماشومانو د واکسینولو په تړاو د ارادې څرګندونه وکړي.
- د مدافعې او کتلوي معافیت EPI د پیاوړتیا شاخصونه: هغه شاخصونه چې د معمول واکسین د ښه کولو او عامه ملاتړ د زیاتولو لپاره ټاکل شوي دي.
په دې توګه، پروګرام کولای شي په واضح ډول وڅاري چې ایا ټاکل شوې موخې د پلان له مخې ترلاسه کېږي او که نه.

## د ناروغۍ خپرېدو د مخنیوي لپاره د ټولنې د معافیت لوړ حد ته رسېدل

### د واکسین فعالیتونه

دغو پړاونو ته د رسېدو په موخه، افغانستان په ۲۰۲۵ کال کې د پولیو له منځه وړلو نړیوال نوښت (GPEI) او تخنیکي مشورتي ډلې (TAG) د سپارښتنو او تصویب له مخې د واکسیناسیون لاندې فعالیتونه پلي کوي:

- **د تکمیلي واکسیني فعالیتونو/ د پولیو واکسین کمپاینونو (SIAs) ترسره کول چې د TAG د تصویب شوي مهالوېش له مخې د پولیو ځانګړي کمپاینونه په کې شامل دي:** پروګرام به په ۲۰۲۵ کال کې د دوو ملي کمپاینونو (NIDs) او څلورو فرعي ملي کمپاینونو (SNIDs) له لارې ماشومانو ته د پولیو دوه ارزښتي خوراکي واکسین bOPV ورسوي. د کال په لومړۍ نیمایي کې (چې په ټیټه کچه د ویروس خپرېدو موسم دی) درې فرعي او یو ملي کمپاینونه ترسره کېږي. د ټولو SNIDs کمپاینونو پوښښ به د لوړ خطر ښاري سیمو په شمول د مرکزي، لوېدیځ، شمال او شمال ختیځ زونونو ښارونو ته وغځېږي. د «محور بدلون» ستراتیژۍ ټول عناصر به د ۲۰۲۵ کال د اپرېل میاشتې د کمپاین لپاره په بشپړ ډول فعال وي. د اپرېل او مې میاشتو کمپاینونه به له پاکستان سره هممهاله ترسره شي.

د هر SIA وروسته، په ځانګړي ډول د لوړ خطر په سیمو کې پر وخت او ژوره بیاکتنه ترسره کول اړین دي، څو ستونزې په روښانه توګه وپېژندل شي او د راتلونکي کمپاین د کیفیت د ښه والي لپاره حل لارې پلي شي.

- **د پولیو پېښو په وړاندې ځوابي کمپاینونه** به د SIA د مهالوېش ترڅنګ په هغو میاشتو کې ترسره شي چې کمپاین نه وي پلان شوی. د هر ډول وحشي یا واکسین-اړوند پولیو ویروس د پېښې لپاره به چټک ځوابي پلان موجود وي، چې پکې مخکې له مخکې برابر شوي لوژستیک، واکسین او بودیجه شامله ده.
- **د زرقي واکسین IPV کمپاینونه به** په ختیځ او (له نیمروز ولایت پرته) د سوېلي زون په څلورو ولایتونو کې ترسره شي. په دغو کمپاینونو کې به ګرځنده او کډوالو وګړو، د WPV د خپرېدو او د معمول واکسین ټیټ پوښښ لرونکو سیمو، او د صفر ډوز ماشومانو د لوړې کچې لرونکو سیمو ته ځانګړې پاملرنه کېږي. جزوي زرقي واکسین fIPV) IPV) به د (Big Catch Up) ځانګړي کمپاین په مرسته لا ښه او په اغېزناک ډول تطبیق شي.
- **د لوړ خطر لرونکو ګرځنده وګړو لپاره تکمیلي واکسیني فعالیتونه:** مهاجر او ګرځنده وګړي د پولیو له منځه وړلو په هڅو کې خورا مهم دي، چې په‌کې د کرښې د دواړو خواوو اوسېدونکي، په کور دننه بې ځایه شوي کسان (IDPs)، کوچیان او بېرته راستانه شوي کډوال شامل دي. د دغو وګړو د پوښښ لپاره به د دوی د تګ راتګ په مسیر کې ځانګړي ټیمونه او د واکسین بېلابېل فرصتونه موجود وي. د کرښې په صفري برخو کې به دایمي ټرانزېټ ټیمونه، د پولې پورې غاړې ټیمونه، د بېرته راستنو شوو ټیمونه، د نړیوالو روغتیایي مقرراتو (IHR) ټیمونه، د معمول واکسینونو(RI) ټیمونه او د پولیو واکسین ټیمونه په هغو مرکزونو کې موجود وي چې کډوالو او ګرځنده وګړو ته، وروستي استوګن ځای ته له تللو وړاندې روغتیایي خدمات وړاندې کوي. ټول عمر لرونکي مسافر به، چې د تورخم او د دوستۍ دروازې له لارې له پاکستانه راځي، واکسین کېږي. له UNHCR، IOM او د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو ریاست (DoRR) سره به د منظمې همغږۍ له لارې د بېرته راستنېدونکو د بهیر څارنه کېږي او د اړتیا پر مهال به د بېرته را ستنېدنې په مرکزونو کې د واکسین ټیمونه تنظیمېږي. د کوچیانو لپاره به په سوېل، سوېل ختیځ او لوېدیځ زونونو کې د تګ راتګ پر پېژندل شوو لارو ځانګړي ټرانزیټ ټیمونه موجود وي، چې د پاکستان له پروګرام سره به د نقشو او د پولې پورې غاړې د معلوماتو تبادله کوي.

سره له دې چې د کډوالو او ګرځنده وګړو د دوامداره خوځښت له امله دا فعالیتونه پرله پسې روان دي، خو پروګرام به د اړتیا پر مهال دا پلانونه نور هم پیاوړي کړي، چې پیل به یې د ۲۰۲۵ کال د اپرېل په میاشت کې له پاکستان څخه د افغان کډوالو د بېرته را ستنېدنې له احتمالي څپې سره وشي.

## د خطر درجه‌بندي

د خطر کټګورۍ د ټاکلو لپاره ګڼ فکتورونه په پام کې نیول کېږي، چې په کې د اپیډیمولوژي (epidemiology) وضعیت معلومات، کور په کور کمپاینونو ته د پرله‌پسې لاسرسي نشتوالی، د کمپاین د کیفیت شاخصونه، او نور اپیډیمولوژیکي او ډیموګرافیکي فکتورونه شامل دي (لکه د خلکو د معافیت کچه، د کډوالو/ بې‌ځایه شوو خلکو شتون، د هېواد دننه او د پولې پورې غاړو تر منځ د خلکو د تګ راتګ بڼه، د نفوس ګڼوالی، او نور).
د عملي فعالیتونو لپاره درې ولایتونه د ډېر لوړ خطر لرونکو په توګه ټاکل شوي دي: کندهار او هلمند په سوېل کې، او ننګرهار په ختیځ کې. همدارنګه څلور ولایتونه د لوړ خطر لرونکو په توګه په نښه شوي دي: زابل او ارزګان په سوېل کې، کونړ او لغمان په ختیځ کې. په تېرو پنځو کلونو کې (۲۰۲۰ - ۲۰۲۴) د افغانستان په کچه د پولیو ۷۵٪ پېښې په همدغو اوو ولایتونو کې ثبت شوې دي، چې له دې ډلې ۸۱٪ یې یوازې په دریو ډېر لوړ خطر لرونکو ولایتونو کې رامنځته شوې دي.
سربېره پر دې، درې ولایتونه د منځني خطر په توګه نښه شوي دي: خوست او پکتیکا په سوېل ختیځ کې، او فراه په لوېدیځ کې. پاتې ۲۴ ولایتونه د پولیو ویروس د خپرېدو د دوام له پلوه ټیټ خطر لرونکي ګڼل شوي دي.
په هر ولایت کې د ولسوالیو لپاره د خطر لا نوره تفصیلي درجه بندي شوې ده. په دې درجه بندۍ کې د نفوسو د ګڼوالي معیار په پام کې نیول شوی، په ځانګړي ډول هغه ښاري او ښارونو ته نږدې سیمې چې ډېر اوسېدونکي لري، ګڼ‌مېشتي کلیوالي سیمې او هغه ولسوالۍ چې په تېرو دوو کلونو کې د پولیو ناروغۍ پېښې په کې ثبت شوې وي، او همدارنګه هغه ولسوالۍ چې ډیورنډ کرښې ته نږدې پرتې دي. مهرباني وکړئ په ۲۰۲۵ کال کې د خطر د تفصیلي درجه بندۍ لپاره ضمیمه وګورئ.

## د اقداماتو مهمې موضوعي ساحې

د پولیو پروګرام، په داسې حال کې چې د عملي محدودیتونو او مالي سرچینو له کمښت سره مخ دی، د ۲۰۲۵ کال د منځ‌مهالو هدفونو ترلاسه کولو لپاره، خپلې هڅې پر دې متمرکزې کړې چې د کمپاین د اوسنۍ منظور شوې محل په محل (S2S) بنې څخه اعظمي ګټه واخلي، د حکومت د بشپړ ملاتړ او مالکیت ډاډ ترلاسه کړي، او له نورو شریکانو او سرچینو سره په ګډه کار وکړي څو هغو ماشومانو ته واکسین ته ورسول شي چې تر ټولو ډېر د پولیو ویروس له ګواښ سره مخ دي.

د دې موخې لپاره څلور ستراتېژیک اساسي لارې ټاکل شوې دي:

۱. **عملیاتي تګلاره (Push)** - د واکسین خدمتونه تر ممکن حده د خلکو د اوسېدو ځایونو ته نږدې رسول، د روغتیایي ټیمونو د ورتیاوو لوړول، او داسې سیستم رامنځته کول چې له واکسین څخه پاتې شوي ماشومان په دقیق ډول ثبت او وپېژندل شي.
۲. **د عامه پوهاوي تګلاره (Pull)** - د ټولنې د ښکېلتیا او راجلبولو هڅې پیاوړې کول څو د کمپاین پر مهال د خلکو پام واکسین ځایونو ته واوړي، او له کمپاینونو بهر هم د رسنیو او ټولنیزو شبکو په مرسته د خلکو ترمنځ د واکسین لپاره مثبت ذهنیت او ملاتړ رامنځته کول.
۳. **ملاتړ جلبونه (Advocacy)** - په ملي او سیمه‌ییزه کچه د پروګرام د ملاتړ او مالکیت زیاتولو لپاره له مهمو تصمیم نیونکو، مشرانو او نفوذ لرونکو اشخاصو سره هدفمندې اړیکې جوړول او له هغوی سره اړوند پیغامونه شریکول.
۴. **د کتلوي معافیت پروګرام (EPI) ملاتړ** - په هغو سیمو کې چې د پولیو ویروس خپرېدو تر ټولو لوړ خطر لري، د کتلوي معافیت پروګرام عملي ملاتړ کول، څو د خلکو د معافیت کچه لوړه شي او د ناروغۍ د خپرېدو مخنیوی وشي.

### لومړی ستراتېژیک هدف: د عملیاتي تګلارې پیاوړتیا

د محل‌په‌محل S2S بنې کمپاینونو کې کورنۍ اړې وي چې خپل ماشومان د واکسین لپاره په ټاکلو نېټو، ټاکل شوو محلونو/ ځایونو ته ورولي. دا هغه ډول نه دی چې د کور په کور H2H غوره ماډل کې له مخکې تجربه شوی و، چې د واکسین ټیم به د ماشوم د کور تر دروازې ورته. د محل په محل بنې کمپاین لپاره په بشپړ ډول متفاوتې عملي تګلارې ته اړتیا ده.
پروګرام هڅه کوي چې د واکسین ثابت مرکزونه تر ممکنه حده تر ټولو ډېر ګڼې اخیستونکو کورنیو ته نږدې ځای پر ځای کړي؛ څو په کره او روښانه توګه د واکسین وړ ماشومانو د شمېر او ځای معلومول یقیني شي؛ او د لومړۍ کرښې د کارکوونکو ډلې په تازه مایکروپلانونو، منظم کاري مهالوېش، د وخت او ټیم د جوړښت په مناسبو بدلونونو سمبال کړي، څو وکولای شي خپل کار په اغېزناکه توګه ترسره کړي.

ځانګړي اقدامات په لاندې ډول دي:

- **د لومړيتوب لرونکو ولايتونو د پروګرام څارنه او رهبري:**
  - د تکميلي واکسيني فعاليتونو (SIAs) لپاره د کيفيت د تضمين تګلارې پياوړې کول، چې د خطر د کټګورۍ له ارزونې سره سمون ولري. په دې تګلاره کې د کور مخې ته څارنه، د پوليو له منځه وړلو ملي بېړني عملياتي مرکز (NEOC) له لوري د لوړ خطر لرونکو ولايتونو د پروګرام بياکتنه، د (NEOC) د عملياتي کاري ډلې له لوري د دويمې درجې خطر لرونکو ولايتونو بياکتنه، د ارتباطاتو/ اړيکو کاري ډلې له خوا د اړيکو او ټولنيزې ښکېلتيا څارنه، او د حوزوي بېړنيو عملياتي مرکزونو (EOCs) له لوري د شنو ساحو مشرې شامل دي.
  - د کمپاين په منځ کې څارنه (ICM) له سره تنظيمول او د کمپاين له اوسنۍ بڼې سره سمول.
- **د کور په کور (H2H) واکسين ټيمونو په خپل حال ساتل، څو د پوښښ کچه لوړه شي:**
  - د کور په کور کمپاين بڼې مايکرو پلانونه د محل‌په‌محل (S2S) بڼې کمپاين لپاره برابرول.
  - د کور په کور کمپاين د واکسين ټيمونو د ساتلو تر څنګ، بايد د هر ټيم لپاره د هدف وړ کورونو شمېر د ټاکل شوو ځايونو پر بنسټ په منظم او متوازن ډول وټاکل شي.
- **له کلتوري او منل شوو لارو، له واکسين څخه د پاتې ماشومانو ثبتول:**
  - د ماشومانو د ثبت کتابچې کارول، چې د پاتې ماشومانو د واکسين لپاره نور فرصتونه هم برابروي.
  - د ساحې د کړنو د ارزونې پر بنسټ، په هماغه ورځ بيا ليدنې ته لومړيتوب ورکول، او د کمپاين له پای ته رسېدو وروسته د ژورې ارزونې له مخې، د څلورمې ورځې بيا ليدنې ته هم لومړيتوب ورکول، په ځانګړي ډول هغه مهال چې ارزونه د کمپاين د يوې اضافي ورځې مثبت اغېز وښيي.
- **د پوليو د تکميلي واکسيني فعاليتونو (SIAs) او د کتلوي معافيت پروګرام (EPI) لپاره د نوو زېږېدلو ماشومانو لېست جوړول او تعقيبول**
  - د نوو زېږېدلو ماشومانو د پرله‌پسې ثبتولو لپاره به د ماشومانو د ثبت کتابونه کارول کېږي.
- **د ټيمونو د تګ راتګ وختونه او د ټيم جوړښت داسې عيارول چې د ماشومانو سرپرستانو ته په غوره ډول ورسېږي**
  - هر چېرې چې امکان ولري، بايد د کورنۍ پر بنسټ جوړ شوي او د ښځو لپاره مناسب ټيمونه وکارول شي، لکه د سيمې د سپين‌ږيرو کميټې، د اناګانو ډلې او يا محرم نارينه.
  - له اړتيا سره سم دې د ښځينه ټيمونو لپاره د SIA واکسين ځانګړي ثابت ځايونه جوړ شي.
- **د ۲۰۲۵ کال په دويمه ربعه کې، په ختيځ او سوېل زونونو کې د جټ انجېکټر په وسيله د پوليو زرقي واکسين (IPV) تکميلي کمپاينونه محل په محل S2S بڼې له مخې ترسره کول**
- **د هغو ځانګړو ماشومانو لپاره چې د پوليو له امله فلج شوي وي، د ټولنې د ځوابي واکسين کمپاينونو ترسره کول:** ۱. د هغو ماشومانو واکسنيول چې کافي واکسين يې نه وي اخيستی، يا ۲. په داسې سيمه کې اوسېږي چې کمپاينونه يې کمزوري وي، او يا ۳. کوچيان وي.
- **د لوړ خطر لرونکو ګرځنده وګړو (HRMP) د مېشتېدو بېلابېل ځايونه په منظم ډول نقشه کول او واکسينول**
  - د دغو وګړو د خوځښت د څارنې او راپور ورکولو لپاره دې ځانګړي مخکښ کارکوونکي (FLWs) او د کلي مشران وګمارل شي، څو د سمدستي واکسيني ځواب لامل شي او زيانمن خلک تر پوښښ لاندې راشي.
- **د کمپاين له پيل مخکې د ټولو ولسواليو له ولسوالانو، د امر بالمعروف او نهی عن المنکر (PvPv) رياست، عامې روغتيا رياست (PHD)، سيمه ييزو او ديني نفوذ لرونکو کسانو سره د پلان جوړونې غونډې ترسره کول**
  - له کمپاين مخکې او د کمپاين پر مهال د يادو شوو اشخاصو او ادارو فعاله ونډه يقيني کول، او همدارنګه د مناسب مايکرو پلان جوړولو او د مخکښو کارکوونکو د ټاکلو په برخه کې د دوی ملاتړ ترلاسه کول.
- **د پوليو له منځه وړلو نړۍوال نوښت (GPEI) د بشري همکارانو له ملاتړ څخه ګټه اخيستل** څو هغه ماشومان چې واکسين يې نه دی اخيستی، وپېژني او وڅاري او ډاډ ترلاسه شي چې هغوی واکسين شوي دي.

### د عامه پوهاوي تګلاره (PULL) لوړې کچې ته رسول

د محل‌په‌محل (S2S) بڼې کمپاينونو ښه ترسره کېدل به دې ته هم اړتيا ولري چې د عامه پوهاوي تګلارې (Pull) يوه روښانه ستراتيژي عملي شي، څو د عملياتي تګلارې (Push) له هڅو سره يو ځای د پروګرام او واکسين پر وړاندې د ټولنې باور زيات کړي، (همدارنګه د S2S

بنې په اړه پوهاوی لوړ کړي)، کورنۍ په مؤثر ډول وهڅوي چې خپل ماشومان د واکسین ټاکل شوو ځایونو ته ورولي، کورنیو ته د لاسرسي زمینه برابره کړي، او له بېلابېلو همکارانو او مرستندویو وسیلو څخه ګټه واخلي، څو په تر ټولو لوړ خطر لرونکو سیمو کې د واکسین د پوښښ کچه لوړه شي. د عامه پوهاوي تګلارې (Pull) د دې ستراتیژۍ فعالیتونه به د پنځو بنسټیزو اصولو تر چتر لاندې تنظیم شي.

**۱ بنسټیز اصل: د دودیزو او ټولنیزو رسنیو له لارې د ملاتړ کوونکي چاپېریال برابرول او ساتل**

***د رسنیو ښکېلتیا او همکاري***

- په ځانګړي ډول د لوړ خطر لرونکو سیمو په کلیدي ځایونو کې له مشهورو او اغېزناکو رسنیو سره د همکارۍ اړیکې جوړې کړئ او وساتئ، څو د راتلونکو محلي‌محل (S2S) کمپاینونو په اړه له خلکو سره پر وخت معلومات شریک شي، ټولنې ته د پوښتنو کولو روښانه لارې وښودل شي، د ماشومانو د ساتنې لپاره د پولیو واکسین د اهمیت په اړه کره پیغامونه ورکړل شي، او د ناسمو معلوماتو خپرېدو مخنیوی وشي.
- د کمپاین له پیل مخکې دې د خبریالانو لپاره د پوهاوي ناستې او د رسنیو د روزنې ورکشاپونه ترسره شي، څو د واکسیناسیون اړوند راپور ورکول ښه شي او له رسنیو سره د اړیکو لارې پراینستې وساتل شي.

***له کمپاین مخکې او د کمپاین په اوږدو کې رسنیزه پیغام رسونه***

- د ټلوېزیون او راډیو لپاره اعلانونه او پیغامونه جوړول، چې مهم پیغامونه ورسوي، په ځانګړي ډول د لوړې کچې خطر لرونکې سیمې تر پوښښ لاندې راولي.
- په هره مهمه/ کلیدي سیمه کې له نفوذ او اغېز لرونکو اشخاصو (له پولیو پروګرام څخه دباندې، لکه له دیني عالمانو) سره پیاوړې اړیکې جوړول، څو دوی د رسنیو له لارې د پیغام په خپرولو، د ناسمو معلوماتو په مخنیوي، او د ماشومانو واکسینولو ته د کورنیو په هڅولو کې مرسته وکړي.
- له اغېزناکو کسانو سره د سیمه‌ییزو رسنیو ګډې ناستې جوړول (لکه دیني عالمان، د ټولنې مشران، له پولیو ناروغۍ څخه ژغورل شوي کسان او روغتیایي کارپوهان)، څو د پولیو کمپاینونو، د پولیو او معمول واکسینونو د خوندیتوب، د پولیو ناروغۍ د زیانونو په اړه د درک کچې لوړولو او په ځانګړو ټولنو کې د ناسمو معلوماتو د مخنیوي په اړه مهم پیغامونه شریک شي.

***د ټولنیزو رسنیو او نورو پلېټفارمونو له لارې کره معلوماتو ته د لاسرسي ډاډمنول***

- د ټولنې د ډیجیټلي ښکېلتیا (DCE) سیستم رامنځته کول، څو د ټولنیزو رسنیو له لارې د پولیو کمپاینونه پیاوړي شي او د ټولنیز چلند د بدلون (SBC) یو مهم اصل وګرځي؛ د ټولنیز اورېدلو/ ټولنې ته د غوږ نیونې (Social Listening) سیستم لا پیاوړی کول، د ناسمو او غلطو معلوماتو منظمه څارنه او د سمدستي ځواب یقیني کول، د عامې روغتیا د بېړنیو حالاتو په وخت کې د مؤثرې اړیکې زمینه برابرول، او د ټولنیزو رسنیو کاروونکي د واکسین لپاره هڅول.
- د پولیو له منځه وړلو ملي بېړني عملیاتي مرکز اړوند د اړیکو مرکزونه (call centers) فعالیت ته دوام ورکول، څو ټولنې ته د واکسین فعالیتونو په تړاو مهم معلومات ورسوي او د کمپاین د پوښښ او اغېز په اړه د ټولنې له غړو سره د ټلیفوني تعقیب له لارې مالومات راټول کړي.

**۲ بنسټیز اصل: د کمپاینونو تر منځ فعالیتونه زیاتول، څو له ټولنې سره د ځایي نفوذ لرونکو کسانو او ډلو له لارې اړیکه ونیول شي او د ټولنیزې هڅونې ټیمونه په داسې ډول سمبال شي چې د روانو او راتلونکو ستونزو د هوارې لپاره ښه چمتو وي**

***د ټولنیزو هڅونکو/ مبلغینو د ټیمونو پیاوړتیا (د ښځینه مبلغینو د شمېر ډېرول هم په کې شامل دي):***

- د ټولنیزو هڅونکو د روزنې مواد نوي کول او د کار پر مهال د عملي بین‌الفردي اړیکو (IPC) روزنې په کې شاملول.
- د لومړۍ کرښې د کارکوونکو (FLW) له ټیمونو سره د ټولنې د اغېزناکو تعاملاتو لپاره د اسانتیا په موخه د اړوندو وسایلو چمتو کول او د IEC پکېج جوړول.
- د لومړۍ کرښې له نارینه او ښځینه کارکوونکو (FLWs) سره د منظمې او چټکې ارزونې په موخه د پروګرام مشورتي ناستې جوړول، څو په بېلابېلو سیمو کې د دوی ستونزې، د پروګرام د ښه کولو اړتیاوې، او هغه لارې چارې چې له مخې یې پروګرام کولای شي شته خنډونه لرې کړي او د دوی د وړتیا لوړولو ملاتړ زیات کړي، په ښه توګه وپېژندل شي. د همدغو موندنو پر بنسټ د روزنې د پروګرامونو عیارول.
- کورنیو او ماشومانو ته د لاسرسي د ښه کولو لپاره د جنسیتي اړتیاوو پر بنسټ نوې او نوښتګرې لارې ازمایل، د بېلګې په توګه، په هغو سیمو کې د واکسین د مانښامنیو ټیمونو جوړول چې ښځې د خپل مېړه یا کور د نارینه له اجازې پرته د ماشوم واکسینولو پرېکړه نه شي

کولای؛ د ښځو لپاره د واکسین ځانګړي مرکزونه جوړول (د امکان په اړه به یې له ځایي ټیمونو سره بحث وشي)؛ او په هغو سیمو کې چې ډېر ماشومان له واکسین څخه پاتې دي او هلته لږ یا هېڅ ښځینه ټولنیزې هڅوونکې/ مبلغې نشته، د ښوونځیو د لوړو ټولګیو یا مشرانو ماشومانو ښکېلول، څو د روغتیا د ملاتړ کوونکو او د واکسیناسیون د اهمیت د فعالو ملاتړو په توګه له ټولنې سره مرسته وکړي.

- د کورنۍ له غړو جوړ ټیمونه زیاتول، چې په کې محرم نارینه هم د ټولنیزو هڅونکو/ مبلغینو په توګه برخه ولري.

***د ځايي نفوذ لرونکو/ اغېز لرونکو کسانو د پیاوړتیا ستراتیژي***

- **د نفوذ لرونکو کسانو او ملاتړکوونکو دقیق لېست او معلوماتو راغونډول**

د هرې سیمې په کچه هغه کسان وپېژنئ او ثبت یې کړئ چې خلک وربانديې باور لري او پر خلکو اغېز لري، لکه د کلي مشران، دیني عالمان، روغتیايي کارپوهان او نور بااعتباره کسان.

- **له اغېز لرونکو کسانو سره منظمې اړیکې او همکاري**

په هره ټولنه کې له دغو کسانو سره د کال په اوږدو کې اړیکې وساتئ، باوري اړیکې ورسره جوړې او پیاوړې کړئ او هغوی ته د پولیو اړوند مهم او لنډ پیغامونه ورسوئ. په دې کې د اناګانو ډلې، ځوانان (په ځانګړې ډول د ښځو ډلې چې ماشومانو ته ښه لاسرسی لري) او د کلي دیني عالمان شامل دي. د روزونکو د روزنې ځانګړی پروګرام (ToT) جوړ کړئ، د ناسمو معلوماتو د مخنیوي او د واکسین د نه منلو د ستونزې د حل لپاره روزنیز ورکشاپونه وکړئ، او له هر کمپاین وړاندې هغوی ته د ترسره کېدونکو کارونو واضح لېست ورکړئ.

- **د ټولنې په مشرۍ د پوهاوي ناستې جوړول**

د ماشومانو د سرپرستانو لپاره جلا جلا غونډې ترسره کړئ؛ د نارینه سرپرستانو لپاره د نارینه مشرانو له لارې، او د ښځینه سرپرستانو لپاره د ښځینه مشرانو له لارې. د مسجدونو په واسطه د پلرونو او نارینه ساتونکو لپاره د پوهاوي ناستې جوړې کړئ، ښځینه ټولنیزې کارکوونکې/ مبلغینې د کور په کور پوهاوي لپاره واستوئ، او د ”پولیو اتلان“ په نوم شبکې رامنځته کړئ.

- **د خلکو خبرې اورېدل او د هغوی نظرونه اخیستل**

د ټولنې د غږ اورېدو غونډې جوړې کړئ څو د خلکو اندېښنې، نظرونه او وړاندیزونه واورئ، د مشرانو او ماشوم ساتونکو له خولې معلومات راټول کړئ، او له هر کمپاین وړاندې د مهمو موضوعاتو د پوښښ لپاره د لومړۍ کرښې د کارکوونکو روزنې ترسره کړئ.

- **د سیمه ییزو مشرانو له لارې همغږي**

۱. د هرې لومړیتوب لرونکې ولسوالۍ د کلیو مشران، دیني عالمان او روغتیايي کارپوهان په یوه لېست کې ثبت کړئ.
۲. په هره لومړیتوب لرونکې ولسوالۍ کې یو مسوول وټاکئ څو د روغتیايي پوهاوي ټول فعالیتونه پرمخ یوسي.
۳. د ارزونې لپاره بنسټیز شاخصونه جوړ کړئ او یو مسوول وګومارئ څو د کار پرمختګ وڅاري او راپور جوړ کړي.

- **د پولي پورې غاړو لپاره ګډ پلان جوړول**

د پولې پورې دواړو غاړو لپاره ګډ پلانونه او وسایل چمتو کړئ، د کیفیتي ارزونې لپاره کار وکړئ، د سرحدي ولسوالیو پیغامونه سره یو شان کړئ او د دواړو غاړو بانفوذه او اغېز لرونکي کسان وپېژنئ او ثبت یې کړئ.

## ۳ بنسټیز اصل: د بشپړ مسوولیت منلو او واکسین کمپاینونو (SIAs) د څارنې لپاره د سیمه‌ییزو چارواکو د ملاتړ جلبونې (advocacy) پیاوړتیا

***د هغو ملاتړکوونکو پېژندنه چې پر سیمه‌ییزو تصمیم نیونکو اغېز لري***

- په هره ولسوالۍ کې نفوذ لرونکي کسان (لکه مشران، دیني عالمان، روغتیايي کارپوهان) معلومول او د هغوی د نفوذ کچې، د باور وړتیا او د اغېز توان له په کتو طبقه‌بندي کول.
- د شته خدمتونو او موجودو فرصتونو معلومولو لپاره چټکه ارزونه ترسره کول.

***له تایید شوو ملاتړکوونکو سره د اړیکو جوړول او سم مدیریت***

- له پېژندل شوو اغېز لرونکو کسانو او د ټولنې له مشرانو سره، چې پر سیمه‌ییزو پرېکړه‌کوونکو اغېز لري، د پیغامونو د شریکولو او د هغوی د ملاتړ ترلاسه کولو لپاره د پوهاوي ناستې جوړول.
- په سوبل، سوبل ختیځ او ختیځو سیمو کې د لوړ خطر لرونکو ولایتونو لپاره د ملي کچې د دیني عالمانو د ملاتړ جلبونې (advocacy) ځانګړې غونډې جوړول، څو د واکسیناسیون او پولیو له منځه وړلو په برخه کې د مهمو چارواکو ملاتړ، د هغوی دیني فتواوې او د ملاتړ عامې څرګندونې ترلاسه شي. دا غونډې به په ملي کچه د پولیو له منځه وړلو ملي بیړني عملیاتي مرکز (NEOC) او ملي اسلامي مشورتي ډلې (NIAG) په مشرۍ ترسره کېږي او د لوړ خطر ولایتونو ډېر با نفوذه دیني عالمان او کلیدي چارواکي به په کې ګډون کوي،

او همدارنګه په ولایتي کچه به هم د دیني عالمانو، سیمه‌ییزو اغېز لرونکو کسانو او د ټولنې د مشرانو په ګډون سره د ولسي ملاتړ موازي بهیر پرمخ وړل کېږي.

***د هر کمپاین له پیل مخکې له سیمه‌ییزو چارواکو سره نېغ په نېغه اړیکه نیول، څو د هغوی ملاتړ او بشپړه ونډه ډاډمنه شي***

- د کمپاین له پیلېدو مخکې د ولسوالانو، سیمه‌ییزو نفوذ لرونکو کسانو او مشرانو غونډې جوړول، څو د هغوی ملاتړ او ګډون پیاوړی شي، او د واکسین کمپاین له پلي کېدو وروسته د احتمالي منفي پېښو په صورت کې د بحران د اړیکو یا اطلاع‌رسونې میکانیزمونه قوي کول.

## ۴ بنسټیز اصل: د کمپاین پر مهال د خلکو د هڅونې فعالیتونه پیاوړي کول، څو ماشومان د واکسین ځایونو ته راجلب شي

- په کمپاین کې به د مبلغینو (social mobilizers) یو قوي ټیم ګومارل کېږي. دا ټیم به د واکسین له ټیمونو سره مل وي او خلکو ته به د واکسین ځایونه/ محلونه په ګوته کوي او اعلانونه به کوي. که امکان وي، د سیمې اغېز لرونکي کسان لکه دیني عالمان او د ټولنې مشران به هم د هڅوونکو په توګه وګومارل شي، څو سرچیني په اغېزناک ډول وکارول شي.
- یونیسف UNICEF به د خپلو اړیکو او معلوماتو شبکې (ICN) له لارې د ساحوي کچې د ټولنیزو هڅو د مسوولیت او حساب ورکولو سیستم پیاوړی کړي. دا شبکه د ولسوالیو د اړیکو مسوولین (District Communication Officers)، د ولایتونو د اړیکو مسوولین (Provincial Communication Officers) او پراخونکي (Extenders) لري چې د کمپاینونو پلان شوې هڅې به څاري او حساب به ورکوي.
- د کمپاین پر مهال به د سیمې د بانفوذه وګړو شبکې (local influencer networks) فعالې شي، څو د واکسین ردولو ستونزه حل کړي او خلک واکسین ته وهڅوي. د سیمې مشران، نیاګانې، دیني عالمان او ځوانان به هڅول کېږي چې ماشومان د واکسین محلونو ته بوځي. همدارنګه، د ورک ماشومانو د نوملړ جوړولو او د نوو زېږېدلو ماشومانو د ثبت چارې به لا پیاوړې شي، څو هېڅ ماشوم له واکسین څخه پاتې نه شي.
- د کورنیو د را جلبولو لپاره به تکمیلي لارې چارې (complementary approaches) هم وکارول شي، لکه په ټاکلو سیمو کې د «اضافوي ګټو» محدود کارول (limited use of pluses) او د مدغم شوو روغتیایي خدماتو (integrated health service delivery) وړاندې کول، څو له دوامداره روغتیایي خدمتونو سره اړیکه پیاوړې شي.

یادونه: په ۲۰۲۵ کال کې، له پولیو پرته نور شریکان (non-polio partners)، په ځانګړي ډول د GPEI humanitarian partners، کېدای شي په بېلابېلو سیمو کې د عامه پوهاوي ستراتیژۍ (pull strategy) په پلي کولو کې مرسته وکړي.

## ۵ بنسټیز اصل: د عامه پوهاوي (Pull Strategy) د څارنې او ارزونې (M&E) چوکاټ

- د څارنې او ارزونې چوکاټ (M&E framework) او د کړنلارې لارښودونه(SOPs) معیاري کول او له ۱ بنسټیز اصل تر ۴ بنسټیز اصل پورې د پلان له محتوا سره سمون ورکول، څو د پروګرام د ډیزاین او د اړتیا پر وخت د سمون راوستلو لپاره دقیق معلومات برابر شي.
- د څارنې او ارزونې وسایل لکه شاخصونه (indicators)، د کیفیت د څارنې چک‌لېست (quality monitoring checklist)، د سرپرست د پوهاوي سروې (caregiver awareness survey) او نورو بیاکتل او هغو ته نوې بڼه ورکول.
- د حوزوي او ولایتي کارکوونکو وړتیا لوړول څو وکولای شي د شواهدو(evidence) راټولول، تولید او کارول په اغېزناک ډول ترسره کړي.
- د چټکو ارزونو (rapid assessments) ترسره کول، څو اقدامات (interventions) وازمایل شي او نوې یا موجودې ستراتیژۍ وازمویل شي (لکه د پولي پورې غاړو ترمنځ د همغږۍ او هممهاله کولو ملاتړ).
- د لومړۍ کرښې د کارکوونکو (FLWs) لکه ټولنیزو هڅوونکو (social mobilizers)، د ولایتونو د اړیکو مسوولینو (PCOs)، د ولسوالیو د اړیکو مسوولینو (DCOs)، ښځینه واکسیناتورانو (FMVs)، پراخوونکو (extenders)، او د ملي اسلامي سلا مشورتي ډلې غړو (NIAG members) د وړتیاوو ارزونه، څو د پروګرام نیمګړتیاوې روښانه شي او د روزنې ځانګړې ستراتیژۍ (tailored training strategies) ورته جوړې شي.
- د هغو ستراتیژیو د اغېز ارزونه چې په لوړ خطر لرونکو ولسوالیو کې د پولیو د کمپاینونو ګډون زیاتوي، لکه په کندهار ښار کې د (polio pluses) او په سوېل او ختیځ کې د مدغم شوو روغتیایي خدمتونو (ISD) وړاندې کول.
- د پوهې د مدیریت پلان (Knowledge Management plan) جوړول، چې د ظرفیت لوړولو ناستې ولري، څو د معلوماتو د راټولولو او راپورونو شریکولو د کړنلارې (SOPs) پیاوړتیا یقیني کړي. په دې کې د راپورونو د فورمو جوړول (templates) او د معلوماتو شریکولو لارو چارو ښه کول شامل دي.

- د پولیو واکسین کمپاینونو د تولنيزې ونډې په تړاو دوه میاشتنی خبرلیک (bi-monthly polio newsletter) چمتو کول او د برېښنالیک له لارې د پولیو له منځه وړلو نړۍوال نوښت(GPEI) ټولو شریکانو، او د یونیسف د سیمه‌ییزو او مرکزي دفترونو مشرانو ته لېږل. دا خبرلیک به په ځانګړي ډول د ځارنې او ارزونې برخه ولري، چې د «راجلبولو ستراتيژۍ» د شاخصونو له تفصیلي راپورونو سره تړلي وي، او همدارنګه به د کیسو او انفوګرافیکونو په بڼه د پروګرام د اغېزو شودلو لپاره ځانګړې برخه وي.

## په کلیدي/ مهمو سیمو کې د کتلوي معافیت پروګرام (EPI) بنه کول او نور مدغم شوي اقدامات

که څه هم د پولیو پروګرام به د محل‌په‌محل (S2S) بڼې کمپاینونو د بڼه ترسره کېدو لپاره د عملیاتي ستراتېژۍ (Push) او عامه پوهاوي ستراتېژۍ (Pull) روښانه لارې عملي کوي، خو شمېرې ښيي چې دغه ډول کمپاینونه ځینې طبیعي محدودیتونه لري. له همدې امله، په ځینو ډېرو زیانمنو سیمو کې به لا هم یو شمېر ماشومان له واکسین څخه پاتې شي. دا هغه سیمې دي چې د پولیو ویروس خپرېدل په کې دوام لري او د کتلوي معافیت پروګرام (EPI) له لارې هم په کې د ماشومانو د معمول واکسین کچه ډېره ټيټه ده.
لاندې نقشه ښيي چې په ۲۰۲۳ او ۲۰۲۴ کلونو کې په کومو سیمو کې له پنځو کلونو څخه کم عمره ماشومانو هېڅ د پولیو واکسین نه دی ترلاسه کړی. تر ټولو تیاره سور رنګ هغه سیمې ښيي چې ډېرې زیانمنې دي، او د دغو سیمو ډېره برخه د افغانستان په سوېل کې ده.

هغه سیمې چې په ۲۰۲۳ او ۲۰۲۴ کلونو کې د حاد نرم فلج (AFP) پېښې په کې ثبت شوي وې، د تکمیلي واکسیني کمپاینونو (SIA) پر مهال یې د پولیو واکسین هیڅ ډوز نه دی ترلاسه کړی.




د دغو تشو د ډکولو لپاره به د پولیو پروګرام د ماشومانو د معافیت د پیاوړتیا لپاره په تر ټولو لوړ خطر لرونکو ولایتونو کې اضافي هڅې ترسره کړي. د لومړیتوب په توګه به د سوېل زون د کندهار او هلمند لوی ښارونه په نښه شي، ځکه چې د پورته نقشې مطابق په کې د معافیت کچه ټيټه ده او تاریخي شواهد ښيي چې دا سیمې د پولیو ویروس د ساتلو او نورو سیمو ته د لېږد مرکزونه دي.
د پولیو پروګرام به د ځانګړو سرچینو په متمرکزولو له کتلوي معافیت پروګرام (EPI) سره مرسته وکړي څو په دریو تر ټولو لوړ لومړیتوب لرونکو ښارونو او ښارونو ته په ورڅېرمه سیمو – کندهار ښار، لښکرګاه او نهر سراج – کې د عملي کړنلارو نقشه (Roadmap) جوړه او پلي کړي.
د دې نقشې موخه د واکسین په وړاندې د شته اصلي خنډونو له منځه وړل او د ۲۰۲۵ کال تر پایه د واکسیناسیون کچه تر ۳۰٪ لوړول دي.
دغه هدف ته د رسېدو لپاره به لاندې پیاوړې کړنې پلي شي:

- د معیاري واکسین د پلي کولو دوراني پیاوړتیا (PIRIs – Periodic Intensification of Routine Immunization)
- د روغتیايي خدمتونو کیمپونه (Health Camps)
- د اړتیا پر مهال د څو عمري ډلو ګډ واکسینونه (MACs – Multi-Age Cohort Vaccinations)

سربېره پر دې به لاندې کړنې هم وشي، څو ټول فعالیتونه د بېلابېلو لومړیتوب لرونکو ولسوالیو، ښاري او کلیوالي سیمو د اړتیاوو مطابق برابر

شي. (د لومړيتوب لرونکو سيمو د لېست لپاره ضميمه وګورئ.)

- د کليدي/ مهمو ولايتونو لپاره د مايکروپلان جوړولو (Microplanning)، څارنې (Supervision) او ارزونې(Monitoring) په چارو کې د پوليو ټيم ګډون
- د شمېرو د سمون او له واکسين څخه د پاتې ماشومانو د تعقيب (Denominator Correction / Defaulter Tracking) لپاره د کتلوي معافيت پروګرام (EPI) د معلوماتو کارول
- په ځانګړي ډول په ختيځ زون کې له واکسين څخه د پاتې ماشومانو معلومولو او واکسينولو په چارو کې د ښځينه هڅوونکو واکسيناتورانو (FMVs) ګډون
- د FMVs او بشري مرستو د شريکانو له لوري د سپينو/ تشو ساحو(White Areas) ته د اضافي واکسين رسولو غونډې (Outreach Ses-sions)
- د تکميلي واکسين فعاليتونو (SIA) او کتلوي معافيت پروګرام (EPI) لپاره د نوو زيږيدلو ماشومانو ثبت او تعقيب
- ټولنې ته د پوليو خوراکي واکسين (OPV) اړوند مثبتو پيغامونو رسولو او د پوهاوي کچې لوړولو لپاره د بشري مرستو د شريکانو ښکېلول
- په ټولنه کې د ځوابي واکسين کمپاين ترسره کول د حاد نرم فلج (AFP) د هغو پېښو لپاره چې د واکسين بشپړ پوښښ يې نه وي ترلاسه کړی، يا په هغو سيمو کې چې د ساحې د سروې پايلې ښيي د واکسين پوښښ له ۹۰ سلنې کم دی. دا کار به په ځانګړي ډول په سوېلي زون کې ترسره کېږي، او وروسته به د (SIA) د اساسي عملياتو بياکتنه هم وشي، څو د نيمګړتياوو د حل لپاره اقدام وشي.
- په سوېل زون کې به ښځينه ټولنيزې روغتيايي ناظمانې او کارکوونکې (CHSs – Community Health Supervisors / CHWs – Com-munity Health Workers) — يا د اړتيا په وخت کې بل مناسب ميکانيزم — د کړنو د اجرا په بدل کې د پيسو ورکولو د سکيم (Pay for Performance Scheme) له لارې وګومارل شي. دوی به د نوو زيږيدلو ماشومانو د ثبت او تعقيب، د واکسين د کمپاينونو لپاره د پاتې ماشومانو راټولول او هڅول، او د نورو اړوندو روغتيايي خدمتونو وړاندې کول ترسره کړي.
- د پوليو له خطر سره مخ سيمو په لور د WASH (اوبو، حفظ الصحې او پاکوالي خدماتو) پروګرامونو بيا اړول

### له پوليو سره د ګډو خدمتونو (ISD) وړاندې ګولو تګلاره (approach)

له پوليو سره د ګډو خدمتونو ISD څو سکتوري تګلاره به پلې شي چې په کې د واکسين هڅې له نورو پراخو روغتيايي خدمتونو سره يوځای کېږي، څو د «صفر ډوز» (Zero-dose) ماشومانو شمېر راکم شي، د واکسين پوښښ لوړ شي، او د ماشومانو په ژوندي پاتې کېدو او وده کې د ښو پايلو سبب وګرځي.
د ISD فعاليتونه به د هغو سيمو په مرکزونو کې پراخ شي چې د پوليو ويروس د دوامداره خپرېدو ځايونه (Polio reservoirs) ګڼل کېږي او د «ISD» سيمو په توګه تاکل شوي دي. هدف يې دا دی چې هم د پوليو د ويروس خپرېدو مخه ونيول شي او هم له پراخو عامه روغتيايي ستونزو سره مبارزه وشي. دا کار به له دې لارې وشي چې د اړينو روغتيايي، تغذيې (Nutrition) او د اوبو، حفظ الصحې او پاکوالي (WASH) خدماتو ته د لاسرسي په ښه کولو د ټولنو باور زيات شي، څو د پوليو واکسين منل هم ډېر شي.
له دغې ګډې تګلارې به د کتلوي معافيت پروګرام (EPI) او پوليو له منځه وړلو نوښت (PEI) په ګډه ګټه پورته کړي څو د واکسين لپاره روغتيايي مرکزونو ته د ورتلونکو ماشومانو د تغذيې وضعيت وڅارل شي، مېندو او پلرونو ته يې د ښې تغذيې او روغتيا په اړه مشورې ورکړل شي، او د اوبو، حفظالصحې او پاکوالي (WASH) په اړه د پوهاوي هڅونې ترسره شي.
د راجع کولو يو رسمي سيستم (Referral system) به رامنځته شي څو په هغو سيمو کې، چې د پوښښ کچه ټيټه ده، شته ستونزې حل کړي. د دغه سيستم له مخې، هغه ماشومان چې د واکسين پر مهال په کې د تغذيې (Nutrition) يا اوبو، حفظالصحې او پاکوالي WASH ستونزې وليدل شي، په اسانۍ اړوندو خدماتو ته راجع کېږي، او برعکس.

دا هڅې به د څلورو دايمي ګواښ لرونکو ولايتونو (Endemic provinces) — ننګرهار، کونړ، کندهار او هلمند — په ټاکل شوو مهمو ولسواليو کې متمرکزې وي، لکه: (جلال اباد، بهسود او بتي کوټ)؛ (اسعدآباد او دانګام)؛ (کندهار ښار، سپين بولدک، شاوليکوټ، ميوند او ارغستان)؛ (لښکرګاه او نهر سراج). د دغو سيمو ټاکل به د پوليو ويروس د خپرېدو د اپيډيمولوژۍ معلوماتو، د روغتيا او تغذيې شاخصونو، او د واکسين د پوښښ کچې پر بنسټ وشي.
له پوليو سره ګډ خدمتونه به د خلکو د استوګنې سيمو ته نږدې وړاندې شي، په ځانګړي ډول په کورونو او روغتيايي مرکزونو کې، څو ډاډ ترلاسه شي چې تر ټولو محرومې سيمې اړين خدمات او پاملرنه ترلاسه کوي.

د افغانستان چارواکي به له تطبیقوونکو شریکانو سره یو ځای د رسېدني پروګرامونه (Outreach programmes) پیاوړي کړي، د نه واکسین شوو ماشومانو موندنه او راجع کول به اسان کړي، او د هدفمندو اقداماتو له لارې به د خوارځواکۍ ستونزې حل کړي.
سربېره پر دې، یو تمرکز به پر دې وي چې د دغو هڅو پایلې وڅارل شي او ثبت شي، څو د راتلونکو تګلارو جوړولو او نورو لوړ خطر لرونکو سیمو ته د احتمالي پراختیا لپاره لارښود شي. په دې توګه به د ماشومانو په تولیزو روغتیايي پایلو کې ښه والی راشي، د ټولني ښکېلتیا به زیاته شي، او په پایله کې به د پولیو له منځه وړلو چارو او د واکسین پوښښ د لوړولو په لور چټک پرمختګ وشي، ځکه چې د روغتیا اساسي لاملونه به هم په نښه کېږي.

## ملاتړ جلبوونکي هڅې (Advocacy)

په نړۍ کې هر هېواد چې د پولیو ویروس په بشپړ له منځه وړلو کې بریالی شوی، خپله مبارزه یې د روغتیا وزارتونو په مشري پرمخ وړې ده. په افغانستان کې هم د پولیو له منځه وړلو هڅو بریا او راتلونکو نسلونو ته له پولیو څخه د خوندي راتلونکې ډالۍ کولو لپاره د حکومت پیاوړې مالکیت (Ownership) او څارنه (Oversight) خورا مهم رول لري.
د پولیو له منځه وړلو نړۍوال نوښت (GPEI) به د پولیو له منځه وړلو ملي بېړني عملیاتي مرکز (NEOC) سره په همغږۍ ډاډ ترلاسه کړي چې د هېواد په هره کچه پرېکړه کوونکي د روښانه، هدفمندو او د بیلابیلو ډلو لپاره د ځانګړو پیغامونو په وسایلو سمبال وي، دا پیغامونه به په محلي ژبو چمتو کېږي. له دوی به وغوښتل شي چې د والیانو، ولسوالانو، د ټولني مشرانو او نورو نفوذ لرونکو کسانو - چې د لوړ خطر لرونکو ګرځنده ټولنو (High-Risk Mobile Populations) استازي هم په کې شامل دي – لپاره د ملاتړ جلبوني (Advocacy) ناستې جوړې کړي څو د ټولنیزې هڅووني (Community Mobilization) او د تکمیلي واکسیني فعالیتونو/ د پولیو واکسین کمپاینونو (Supplementary Immunization Activities) په مایکروپلانونو کې د کلي د مشرانو د پېژندنې په وسیله د نوې تګلارې (Pivot Strategy) لپاره ملاتړ ترلاسه شي.
کاري شریکان به له چارواکو سره په ګډه د ولایتونو له والیانو سره د کاري همغږۍ غونډې (Provincial Task Force) غونډې جوړې کړي چې والي، د کورنیو چارو، حج او اوقافو، او امر بالمعروف او نهی عن المنکر مسوولین به ګډون په کې وکړي، څو د پروګرام د دوامداري ښکېلتیا او مالکیت (Engagement and Ownership) ډاډ ترلاسه شي. له مذهبي اغېز لرونکو کسانو سره د حکومت اړیکې هم ډېرې مهمې دي، څو کورنیو ته د ماشومانو واکسینولو په اړه روښانه پیغامونه ورسوي او هغوی د دې فلجوونکې ناروغۍ له خطره خوندي کړي.
په پای کې، د روغتیا نړۍوال سازمان د ختیځې مدیترانې سیمه‌ییزه کمېټه (WHO EMRO Regional Committee on Polio Eradication and Outbreaks) د پولیو میراث ننګونې پروګرام (Polio Legacy Challenge) څاري چې د پایلو پر بنسټ تمویلېدونکې کړنلاره (Results-Based Financing Framework) ده. په دې کړنلاره کې د افغانستان په ټاکلو سیمو کې د پولیو له منځه وړلو اړوند د مهمو شاخصونو پر وړاندې د پرمختګ په بدل کې د عامې روغتیا وزارت د لومړیتوبونو لپاره بودیجه ورکول کېږي. دا نوښت د سعودي عربستان، متحده عربي اماراتو او قطر حکومتونو له لوري تمویلېږي او د اسلامي پرمختیایي بانک (Islamic Development Bank) له خوا اداره کېږي.

## پرله‌پسې څارنه او د پرمختګ ثبت

د افغانستان د پولیو ویروس د څارنې سیستم اغېزناک او ژر ځواب ویونکی دی، چې هم د حاد نرم فلج (Acute Flaccid Paralysis – AFP) او هم د چاپېریال د څارنې (Environmental Surveillance) برخې پکې شاملې دي. د AFP څارنه لا هم حیاتي ده څو د پولیو وحشي ویروس د خپرېدو د مخنیوي په لور د پرمختګ څارنه وشي. دا څارنه د روغتیايي مرکزونو پر بنسټ دودیزه څارنه او په ټولنه کې د راپور ورکولو یوه پراخه شبکه سره یوځای کوي.
د راپور ورکولو شبکه په منظم ډول ارزول کېږي، په خاص ډول په ملي او ولایتي مرکزونو کې ځانګړو روغتیايي مرکزونو تمرکز ته پام کېږي. دغه سیمې د نفوس د زیاتوالي او د خلکو د زیات تګ راتګ له امله د پولیو ویروس له لوړ خطر سره دي. په هغو سیمو کې چې د څارنې کچه ټیټه وي، د بربښنايي وسایلو کارول د کیفیتي څارنې د اغېز په لوړولو کې مرسته کوي.
د AFP څارنه د چاپېریال له څارنې سره پیاوړې شوې ده څو د فاصله اوبو په څارنه کې د پولیو ویروس کشف شي. دا د ناروغۍ د له منځه وړلو په وروستیو پړاوونو کې د ویروس د موندلو لپاره یوه مهمه اضافي وسیله ده. د چاپېریال د نمونې اخیستلو ځایونه په وروستیو کلونو کې ډېر شوي دي څو ډاډ ترلاسه شي چې پروګرام وکولای شي د ویروس شتون ژر کشف کړي. دغه نمونې مهمه نښه برابروي چې ویروس په کوم ځای کې په ګردش کې دی او د سیمې ماشومانو ته د فلج خطر پېښوي. د پولیو ویروس تولې مثبتې موندنې – که د ناروغۍ د پېښې له لارې وي یا د چاپېریال د نمونې له لارې – ژر راپور کېږي، او د معیاري کړنلارې(SOPs) سره سم د چټک ځواب لړۍ پیلوي. د څارنې د فعالیتونو کلیدي شاخصونه په دوامداره توګه نړیوال معیارونه پوره کړي دي.

په ۲۰۲۵ کال کې به پروګرام د څارنې او بیاکتنې د پراخولو او پیاوړتیا لرې روانه وساتي، په ځانګړي ډول د تر ټولو ټیټو اداري واحدونو په کچه. پروګرام به وړتیا لوړولو، همغږۍ، څارنې او ارزونې ته لومړیتوب ورکړي، څو د څارنې حساسیت نور هم لوړ شي او شته تشې په اغېزناک ډول ډکې شي:

- د لیدل شویو تمایلاتو او ناروغیو د خپرېدو پر بنسټ د موجوده چاپېریالي څارنې د ځایونو هر اړخیزه بیاکتنه ترسره کول او د څارنې د نوو ځایونو زیاتول
- له لوړ خطر سره د مخ نفوس د څارنې شبکه په منظم ډول اپډېټ کول، او د روغتیایي مرکزونو د اړیکو معلومات کارول، چې ورسره به د فعالو پېښو لټون (Active Case Finding) او د څارنې بیاکتنې هم ترسره شي
- د نورو واکسین وړ ناروغیو د څارنې د پیاوړتیا لپاره د AFP څارنې کارول
- د ناکافي AFP پېښو د طبقه بندۍ او په بشپړ ډول عملي کولو لپاره د سیمه ییزې څارنې کمېټې (Regional Surveillance Committees – RSC) او د ملي متخصصینو د بیاکتنې کمېټې (National Expert Review Committee – ERC) بېرته فعالول
- د (NEOC) د اړیکو مرکز له لارې د پولیو څارنې، لیرې څارنې او په لوړ خطر لرونکو سیمو کې د پراخ لټون په اړه د ټولنې پوهاوي لوړول
- د پولیو د مستقیم کشف لابراتوار فعالول څو د AFP د غایطه موادو دوه ځله ازموینه وکړي
- د پاکستان د پولیو له پروګرام سره همغږي، څو د څارنې د فعالیتونو په اړه خبري وشي او د یو بل له لوري راپور شوي AFP پېښو ته پر وخت ځواب ویلو کې همکاري وشي، چې په کې د ګډو څېړنو امکان هم شامل دی. دا همغږي به د افغانستان او پاکستان تر منځ د اپیډیمیولوژیک بلاک (Epidemiological Block) په توګه د پولیو د ټولو ویروسونو د موندلو او د هغوی د مخنیوي لپاره حیاتي وي.

## د بدلون څارنه

د ملي بېړني عملیاتي پلان NEAP د بریالي پلي کېدو کچه به د اپیډیمیولوژیک (epidemiological) پرمختګ له مخې وټاکل شي، یعنې دا چې په افغانستان کې د پولیو له منځه وړلو په لور څومره پرمختګ شوی دی. په ځانګړي ډول، موخه دا ده چې د کال تر نیمايي پورې په ختیځ زون کې د پولیو ویروس خپرېدو بهیر ودرېږي او د کال تر پایه په سویل زون کې د ویروس خپرېدل ورو شي.
د کال په اوږدو کې به د څلورو اصلي ستراتیژیو عملیاتي، عامه پوهاوي، ملاتړ جلبونې او کتلوي معافیت (Push، Pull، Advocacy & EPI) د اغېزو ارزونه د لاندې موخو پر بنسټ وشي:

- **Push:** د پولیو واکسین په هر کمپاین کې له پنځو کلونو د کم عمر لږ تر لږه ۹۰ سلنه ماشومان واکسین شي.
- **Pull:** د لوړ خطر په ولایتونو کې له پنځو کلونو د کم عمر ماشومانو لږ تر لږه ۷۵ سلنه سرپرستان (Caregivers) د پولیو ناروغۍ د نښو، د انتقال لارو او مخنیوي په اړه معلومات ولري، دا اراده ولري چې د کمپاین پر مهال خپل ماشومان واکسین کړي، او وښيي چې د کمپاین له پیلېدو مخکې د واکسین د محلونو او نېټو په اړه خبر وو.
- **Advocacy:** د پولیو واکسین د هر کمپاین پر مهال له وزیرانو او دغه راز د ولایتونو او ولسوالیو په کچه چارواکو سره مستقیمه اړیکه ونیول شي.
- **EPI:** د سویل زون د لوړ خطر په ولسوالیو – کندهار ښار، لښکرګاه او نهرسراج – کې د معمول واکسینونو د پوښښ کچه لږ تر لږه ۳۰ سلنې ته ورسول شي.

د عملیاتي تګلارې (Push) او عامه پوهاوي تګلارې (Pull) ستراتیژیو د فعالیتونو تفصیلي شاخصونه به د پولیو له منځه وړلو ملي بېړني عملیاتي مرکز (NEOC) عملیاتي کاري ډلې (Operations Working Group) او اړیکو/ ارتباطاتو کاري ډلې (Communications Working Group) څاري؛ چې له کمپاین مخکې د چمتووالي په ناستو او له کمپاین وروسته د ارزونې په راپورونو کې به ثبتېږي.

**ضميمي:**
لومړۍ ضميمه: د پوليو وحشي ويروس (WPV1) پېښو/ چاپېريالي نمونو کلنۍ شمېرې
دويمه ضميمه: د ۲۰۲۵ کال د ولسواليو په کچه د ګواښ/ خطر درجه بندي
درېيمه ضميمه: د ۲۰۲۵ کال د تکميلي واکسيني فعاليتونو (SIA) مهالوېش
څلورمه ضميمه: د زونونو پر بنسټ د ستراتيژيکو بدلونونو د فعاليتونو جدول
پنځمه ضميمه: د ۲۰۲۵ کال پراخه پُل ستراتيژي (Comprehensive Pull Strategy 2025) د څار او ارزونې لـه چوکاټ (M&E Framework) سره

لومړۍ ضميمه: د پوليو وحشي ويروس (WPV1) پېښو/ چاپېريالي نمونو کلنۍ شمېرې




دويمه ضميمه: د ۲۰۲۵ کال د ولسواليو په کچه د ګواښ/ خطر درجه بندي

| زون | ولايت | ولسوالي | شمېر |
|---|---|---|---|
| **لوېديځ زون** | بادغيس | قلعه نو | ۱ |
| **شمال ختيځ زون** | بغلان | پلخمري | ۱ |
| **سوېل زون** | هلمند | کجکي | ۱ |
| **سوېل زون** | هلمند | لښکرګاه | ۱ |
| **سوېل زون** | هلمند | موسی کلا | ۱ |
| **سوېل زون** | هلمند | نهر سراج | ۱ |
| **سوېل زون** | هلمند | ناوه بارکزايي | ۱ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| سوېل زون | هلمند | نوزاد | ۱ |
| سوېل زون | هلمند | ریگ/ خانشین | ۱ |
| سوېل زون | هلمند | سنگین | ۱ |
| سوېل زون | هلمند | واشېر | ۱ |
| لوېدیځ زون | هرات | هرات | ۱ |
| مرکزي زون | کابل | کابل | ۱ |
| سوېل زون | کندهار | ارغستان | ۱ |
| سوېل زون | کندهار | غورک | ۱ |
| سوېل زون | کندهار | کندهار | ۱ |
| سوېل زون | کندهار | میوند | ۱ |
| سوېل زون | کندهار | نیش | ۱ |
| سوېل زون | کندهار | شاولیکوټ | ۱ |
| سوېل زون | کندهار | شورابک | ۱ |
| سوېل زون | کندهار | سپین بولدک | ۱ |
| ختیځ زون | کنړ | اسعدآباد | ۱ |
| ختیځ زون | کنړ | دانگام | ۱ |
| ختیځ زون | کنړ | غازي آباد | ۱ |
| ختیځ زون | کنړ | شیگل | ۱ |
| ختیځ زون | کنړ | وټه‌پور | ۱ |
| ختیځ زون | لغمان | مهترلام | ۱ |
| ختیځ زون | ننگرهار | بتي کوټ | ۱ |
| ختیځ زون | ننگرهار | بهسود | ۱ |
| ختیځ زون | ننگرهار | دوربابا | ۱ |
| ختیځ زون | ننگرهار | جلال آباد | ۱ |
| ختیځ زون | ننگرهار | کوټ | ۱ |
| ختیځ زون | ننگرهار | نازیان | ۱ |
| ختیځ زون | ننگرهار | سرخرود | ۱ |
| سوېل ختیځ زون | پکتیکا | برمل | ۱ |
| سوېل زون | ارزگان | دهراود | ۱ |
| سوېل زون | ارزگان | خاص ارزگان | ۱ |
| سوېل زون | ارزگان | شهید حساس | ۱ |
| سوېل زون | ارزگان | ترینکوټ | ۱ |
| سوېل زون | زابل | ارغنداب | ۱ |
| سوېل زون | زابل | میزان | ۱ |
| سوېل زون | زابل | کلات | ۱ |
| | | **ټولټال** | **۴۲** |

درېیمه ضمیمه: د ۲۰۲۵ کال د تکمیلي واکسیني فعالیتونو (SIA) مهالوېش




څلورمه ضمیمه: د زونونو پر بنسټ د ستراتیژیکو بدلونونو د فعالیتونو جدول

| | | |
|---|---|---|
| **ملي فعالیتونه** | -د رسنیو له ادارو سره د فعاله پیغام رسونې (Proactive Messaging) پر بنسټ شراکتونه رامنځته کول<br>-د واکسین خوندیتوب تضمینول<br>-د نفوذ لرونکو څېرو/ منځګړیو (Influencers/Enablers) د ښکېلتیا لپاره کړنلارې (SoPs) جوړول، د کمپاین د کیفیت د ارزونې لپستونه، د ټولنې د ښکېلتیا وسایل او د ورتیا لوړولو بستې/ پکېجونه چمتو کول<br>-د ترویجي (Promotional) توکو چمتو کول<br>-د NEOC له تخنیکي کاري ډلو (TWGs) سره همغږي کول<br>-د بحران پر مهال اړیکه او پیغامرسونه (Crisis Communication) | |
| **زون** | **ختیځ** | **سویل** |
| **فعالیتونه** | تفصیلي عملیاتي پلانونه جوړول، چې په کې لاندې فعالیتونه شامل دي:<br>-له سیمه‌ییزو اغېزناکو/ نفوذ لرونکو څېرو سره د رسنیو ګردې مېزونه (Media Round Tables) جوړول<br>-د ښځینه هڅوونکو/ مبلغینو شمېر زیاتول، د روزنې پلانونه جوړول او د لومړۍ کرښې د کار کوونکو (FLWs) لپاره د IPC او ماشوم ثبتولو د کتابونو د کارولو په اړه روزنه ورکول | تفصیلي عملیاتي پلانونه جوړول، چې په کې لاندې فعالیتونه شامل دي:<br>-له سیمه‌ییزو اغېزناکو/ نفوذ لرونکو څېرو سره د رسنیو ګردې مېزونه (Media Round Tables) جوړول<br>-د لومړۍ کرښې د کارکوونکو (FLWs) لپاره د IPC د روزنې پلانونه جوړول او عملي کول |

| | | |
|---|---|---|
| | -د هدف وړ لوستونکو، اورېدونکو او لیدونکو (Target Audience) لپاره د ترویجي توکو چاپ او وېش<br>-د ولسوالۍ له چارواکو سره د همغږۍ کاري مجلس (Task Forces) له لارې د ملاتړ جلبوني هڅې (Advocacy) ترسره کول<br>-د ټولنیزو اغېزناکو خبرو لپاره له عملیاتي ټیمونو سره د کار کولو وسیلې او کړنلارې (SOPs) برابرول<br>-د ټولنې بشکېلتیا ناستو لپاره له SBC سره همکاري کول، څو د ټولنې شبکې (لکه د اناګانو ډلې، ځوان رضاکاران) په کې وکارول شي<br>-د ټیلیفوني اړیکو د مرکز (Call Center) ترویج او اغېزناک کارول<br>-د څار او ارزونې (M&E) د معلوماتو د راټولولو وسیلو بیاکتنه او کارول<br>-د هدف وړ لوستونکو، اورېدونکو او لیدونکو (Target Audience) لپاره د ترویجي توکو جوړول | -د NIAG غړو له لارې د اغېزناکو/ نفوذ لرونکو خبرو د پوهاوي او بشکېلتیا ناستې تنظیمول-د هدف وړ لوستونکو، اورېدونکو او لیدونکو (Target Audience) لپاره د ترویجي توکو چمتو کول<br>-د ولسوالیو له چارواکو سره د همغږۍ کاري مجلس (Task Force) له لارې د ملاتړ جلبوني هڅو (Advocacy) پلان جوړول<br>-له SBC سره همکاري کول، څو د ټولنې شبکې (لکه د اناګانو ډلې او ځوان رضاکاران) په کې وکارول شي<br>-له ولسوالیو او کلسترونو سره کار کول، څو په لوړ خطر لرونکو ولسوالیو کې پُل ستراتیژي (pull strategy) عملي شي<br>-د ټیلیفوني اړیکو د مرکز (Call Center) ترویج او اغېزناک کارول<br>-د څار او ارزونې (M&E) د معلوماتو راټولولو د وسیلو بیاکتنه او کارونه |
| **ولایت** | **ننګرهار، کونړ، لغمان** | **هلمند، کندهار، ارزګان، زابل** |
| **فعالیتونه** | -له سیمه‌ییزو اغېزناکو/ نفوذ لرونکو خبرو سره د رسنیو ګردي مېزونه (Media Round Tables) جوړول<br>-د ټیلیفوني اړیکو د مرکز (Call Center) ترویج او اغېز زیاتول<br>-د پولیو پوهاوي سروې (Polio Awareness Survey – PAS) ترسره کول<br>-د نوو اقداماتو د ارزونې او د ستراتیژیو د لا ښه کولو لپاره بنسټیزې څېړنې (Formative Research) او چټکې ارزونې (Rapid Assessments) ترسره کول | -له سیمه‌ییزو اغېزناکو/ نفوذ لرونکو خبرو سره د رسنیو ګردي مېزونه (Media Round Tables) جوړول<br>-د ولسوالیو له ولسوالانو سره د مدافعې (Advocacy) ناستې او د عامې روغتیا په ریاستونو (PHD) کې د دندو د ځانګړو ډلو (Task Force) غونډې جوړول<br>-د ښځینه ټولنیزو هڅوونکو/ مبلغینو (FMVs) له لورې د کمپاین له پیلېدو مخکې او د کمپاین په اوږدو کې د روغتیایي پوهاوي ناستې جوړول<br>-د مشرانو له لورې د کمپاین تر پیل وړاندې د ټولنې ناستې ترسره کول<br>-د کمپاین په اوږدو کې ټولنیزو مشرانو او ځوانانو د ډلو د پېژندنې، پوهاوي او بشکېلتیا نوې تجربه (Piloting) عملي کول<br>-د ټیلیفوني اړیکو د مرکز (Call Center) ترویج او اغېز ډېرول<br>-د پولیو پوهاوي سروې (Polio Awareness Survey – PAS) ترسره کول<br>-د نوو اقداماتو د ارزونې او د ستراتیژیو د پیاوړتیا لپاره بنسټیزې څېړنې (Formative Research) او چټکې ارزونې (Rapid Assessments) ترسره کول |

| ولسوالی | جلال اباد ښار، بهسود | کندهار ښار |
| --- | --- | --- |
| **فعالیتونه** | -له پولیـو سره د ګډو خدماتو (ISD) ستراتیژیـک کارونه، څو د ماشومانو پالونکي د واکسین ځایونو/ محلونو ته راجلب شي<br>-د ښځینه ټولنیزو هڅوونکو/ مبلغینو (FMVs) له لوري په روغتیایي مرکزونو کې د پوهاوي ناستې<br>-د کمپاینونو په منځ کې د ټولنې د ښکېلتیا ناستې تنظیمول<br>-د ولسوالانو له لوري د ټولنې له مشرانـو سره د مدافعې (-Ad vocacy) ناستې<br>-د کمپاین پر مهال د واکسین د رد پېښو حل او له واکسین څخه د پاتې ماشومانو موندلو لپاره ملاتړ | -لـه پولیـو سره د ګډو خدماتو (ISD) ستراتیژیـک کارونه، څو د ماشومانو پالونکي د واکسین ځایونو/ محلونو ته راجلب شي<br>-د ولسوالانو د مدافعې (Advocacy) ناستې او د عامې روغتیا پـه ریاستـونو (PHD) کې د دنـدو د ځانګړو ډلـو (Task Force) غونډې<br>-د ښځینه ټولنیزو هڅوونکو/ مبلغینو (FMVs) له لوري د پوهاوي ناستې<br>-د کمپاین تر پیلېدو مخکې د مشرانو له لوري د ټولنې ناستې<br>-د کمپایـن پـه اوږدو کې ټولنیزو مشرانـو او ځوانانـو د ډلـو د پېژندنې، پوهـاوي او ښکېلتیا نـوې تجربـه (Piloting) عـملي کول |

پنځمه ضمیمه: QR کوډ سکن کړئ، څو د ۲۰۲۵ کال پراخې پُل ستراتیژۍ (Comprehensive Pull Strategy 2025) او د څار او ارزونې چوکاټ (M&E Framework) تـه لاسرسی ومومئ.

# پلان عملیاتی اضطراری ملی ۲۰۲۵

## سند کاری

---

۱ جولای ۲۰۲۵ – ۳۰ جون ۲۰۲۶

---

## فهرست


مقدمه ۳
اختصارات ٤
اپیدمیولوژی – مرور وضعیت ٦
عوامل مؤثر بر وضعیت کنونی اپیدیمیولوژی ٦
تنظیم مجدد استراتیژی‌های واکسیناسیون در مطابقت با کمپاین های محل به محل (S2S) ۷
ضرورت به تنظیم مجدد استراتیژی ۷
تعریف موفقیت ۸
دستیابی به مصئونیت مطلوب جمعیتی برای قطع زنجیره انتقال ۸
فعالیت‌های واکسیناسیون ۸
دسته بندی خطر ۹
ساحات کلیدی اقدامات ۹
ادامه نظارت دقیق و مستند سازی پیشرفت ها ۱۵
نظارت بر تغیر ١٦

## مقدمه

### پیام وزیر صحت عامه

افغانستان دستاوردهای چشمگیری در راستای محو مرض پولیو (فلج اطفال) داشته و نشان داده است که توانایی جلوگیری از گسترش این مرض را در تمام ولایات کشور دارد. با این حال، ما یکی از دو کشور جهان هستیم که ویروس وحشی پولیو هنوز در آن وجود دارد. این وضعیت از یکسو بیانگر چالش‌های موجود است و از سوی دیگر، مسئولیت مشترک ما را یادآور میشود که باید برای رفع این موانع به طور جدی اقدام کنیم.
پلان عملیاتی اضطراری ملی سال ۲۰۲۵ (NEAP) بر پایه دستاوردهای گذشته تهیه شده و برای مقابله با واقعیت‌های پیچیده وضعیت کنونی طراحی گردیده است. این پلان به مشکلات سال‌های اخیر، به ویژه شیوع ویروس پولیو در شرق و جنوب کشور، تمرکز نموده و یک استراتژی نیرومند و مبتنی بر شواهد ارائه میدهد که هدف آن تقویت واکسیناسیون محل به محل، تحکیم برنامه‌های منظم واکسین در ساحات پرخطر، و گسترش همکاری‌ها در سطح اجتماعی، ملی و بین السرحدی میباشد.
این پلان بیانگر تعهد وزارت صحت عامه است که در هماهنگی نزدیک با ابتکار جهانی محو پولیو (GPEI)، هر طفل افغانستان را در برابر این مرض قابل پیشگیری محافظت می نماید. در این پلان اهداف روشنی تعیین شده است تا در شرق انتقال ویروس متوقف گردد، در جنوب سرعت گسترش مرض کاهش یابد و محو شود، و همچنان دستاوردهای بدست آمده در دیگر ولایات کشور حفظ شود.
ما از تمامی مقامات ولایات و ولسوالی‌ها، کارمندان صحی، بزرگان قومی، علمای دینی، شرکای ابتکار جهانی محو پولیو و همکاران بشردوستانه بین‌المللی می‌خواهیم که این پلان را با همبستگی کامل و بصورت فوری تطبیق نمایند. محو پولیو در افغانستان ممکن است، اما زمانی به پیروزی خواهیم رسید که همگام، قاطع و بدون تأخیر اقدام کنیم.
امارت اسلامی افغانستان یک بار دیگر تعهد می نماید که از همه توانایی‌هایش برای محو کامل پولیو از کشور استفاده خواهد کرد. همچنان از شرکای تخنیکی و مالی می‌خواهیم تا کمک های شان را بشکل پایدار و استوار ادامه دهند، تا بتوانیم هر طفل را محافظت کنیم و آینده‌ای روشن، عاری از پولیو را برای نسل‌های آینده تضمین نماییم.
بیایید، این پلان عملیاتی اضطراری ملی سال ۲۰۲۵ (NEAP) را بعنوان نقشه راه و تعهد مشترک خود قرار دهیم تا مطمئن شویم هیچ طفل در افغانستان دیگر هرگز به اثر مرض پولیو فلج نشود.

الحاج مولوی نورجلال جلالی
وزیر صحت عامه
امارت اسلامی افغانستان



# اختصارات

| | |
|---|---|
| AFP | فلج نرم حاد |
| APMIS | سیستم مدیریت اطلاعات پولیو افغانستان |
| ARCS | جمعیت هلال احمر افغان |
| bOPV | واکسین خوراکی دوگانه پولیو |
| CVDPV | ویروس پولیو مشتق شده از واکسین |
| EMRO | دفتر منطقه‌ای مدیترانه شرقی سازمان جهانی صحت |
| EOC | مرکز عملیاتی اضطراری |
| EPI | برنامه معافیت کتلوی |
| ERC | کمیته بررسی متخصصین |
| fIPV | واکسین زرقی جزئی پولیو |
| FLW | کارمند خط مقدم |
| FMV | واکسیناتور/بسیج‌کننده زن |
| GPEI | ابتکار جهانی محو پولیو |
| HRMP | نفوس سیار در معرض خطر بلند |
| IAG | گروه مشورتی اسلامی |
| ICM | نظارت در جریان کمپاین |
| IDPs | بی جاشدگان داخلی |
| IOM | سازمان بین‌المللی مهاجرت |
| IPV | واکسین غیر فعال پولیو/ واکسین زرقی پولیو |
| LQAS | نمونه‌گیری تضمین کیفیت لات |
| NEOC | مرکز ملی عملیاتی اضطراری |
| NIAG | گروه ملی مشورتی اسلامی |
| NGO | سازمان غیردولتی |
| NEAP | پلان عملیاتی اضطراری ملی |
| NID | روز ملی واکسیناسیون/ کمپاین ملی واکسین پولیو |
| nOPV2 | واکسین جدید خوراکی پولیو نوع ۲ |
| OPV | واکسین خوراکی پولیو |
| PCM | نظارت بعد از کمپاین |
| PEI | ابتکار محو پولیو |
| PHD | ریاست صحت عامه/ رییس صحت عامه |
| POB | بورد نظارت پولیو |
| PTT | تیم دایمی ترانزیت |
| REOC | مرکز حوزوی عملیاتی اضطراری |
| RI | واکسین‌های دوره طفولیت |
| RRL | لابراتوار مرجع منطقه‌ای |
| SBCC | ارتباطات تغییر اجتماعی و رفتاری/ اگاهی عامه اجتماعی و رفتاری |
| SIA | فعالیت تکمیلی واکسیناسیون/ کمپاین‌های واکسین پولیو |
| TAG | گروپ مشورتی تخنیکی |
| UN | سازمان ملل متحد |
| UNHCR | کمیشنر عالی سازمان ملل در امور پناهندگان |

| | |
|---|---|
| UNICEF | صندوق حمایت از اطفال سازمان ملل/ یونیسف |
| tOPV | واکسین خوراکی سه‌گانه پولیو |
| WASH | آب، حفظ‌الصحه و نظافت |
| WHO | سازمان صحی جهانی |
| WPV | ویروس وحشی پولیو |

## اپیدمیولوژی - مرور وضعیت

افغانستان در سال‌های اخیر پیشرفت قابل ملاحظه‌ای در جهت محو پولیو داشته و توانایی توقف انتقال ویروس پولیوی بومی را در چندین دوره و در تمام مناطق کشور به نمایش گذاشته است. با این حال، افغانستان هنوز یکی از دو کشور اندیمیک پولیو باقی مانده است، زیرا این موفقیت‌ها بصورت همزمان در سراسر کشور و با پاکستان رخ نداده‌اند، که منجر به ادامه شیوع ویروس پولیو در ساحات اپیدمیولوژیک این دو کشور شده است. برنامه محو پولیو در سال‌های ۲۰۲۱ و ۲۰۲۲ بیشترین موفقیت را به هدف محو ویروس پولیو داشت، زمانی که تنها چهار و دو واقعه پولیو به ترتیب گزارش شدند.

با این حال، دو شیوع بزرگ در چند سال گذشته مانع پیشرفت برنامه شدند – نخست در حوزه شرق که از اواسط سال ۲۰۲۲ آغاز شد، و دوم در حوزه جنوب که از اواسط سال ۲۰۲۳ شروع گردید. در سال ۲۰۲۴، ۲۵ طفل دچار فلج ناشی از پولیو شدند (اکثریت در حوزه جنوب متمرکز بودند) و ۹۲ نمونه محیطی در سراسر کشور مثبت برای ویروس پولیو تشخیص داده شدند. در اواسط سال ۲۰۲۴، تعداد زیادی از اطفال در برابر این بیماری محافظت شدند، زمانی که کمپاین های خانه به خانه واکسیناسیون (به‌جز در شهر کندهار) اجازه داد شد – با پوشش ۸۹٪ در ماه جولای ۲۰۲۴ – اما این پیشرفت دوام نداشت، زیرا کمپاین‌های خانه به خانه در ماه سپتمبر ۲۰۲۴ متوقف شدند. تغییر روش کمپاین از خانه به خانه (H2H) به محل به محل (S2S) باعث افزایش قابل توجه تعداد اطفال محروم از واکسیناسیون شده و خطر پیچیده‌تر شدن وضعیت موجود برای توقف انتقال ویروس را به دلیل پیچیدگی‌های اجتماعی و جمعیتی افزایش داده است. این وضعیت با ورود گسترده مهاجرین و بازگشت کنندگان از پاکستان و ایران بیشتر تشدید خواهد شد. در حالی که مؤثرترین راه حل بازگشت به روش کمپاین خانه به خانه است، اما در حال حاضر تنها کمپاین محل به محل تطبیق می‌شود.

اپیدمیولوژی فعلی نشان دهنده شیوع روبه رشد در حوزه جنوب است، جای که تعداد قابل توجهی از اطفال در برابر ویروس پولیو آسیب پذیراند و خلا مصونیت به دلیل سال‌ها محدودیت در شیوهٔ کمپاین به وجود آمده است؛ در حالی‌که بهبودهای قوی و نوآورانه در برنامه باعث کاهش شیوع در حوزه شرق شده است. (لطفاً برای آمار سالانهٔ موارد ویروس پولیو نوع ۱ (WPV1) در افغانستان، به ضمیمه مراجعه کنید.)

**در سال جاری، طبق پلان عملیاتی اضطراری ملی ۲۰۲۵، استراتژی محو پولیو بر بهبود روش کمپاین محل به محل و استفاده از ابزارها و همکاری های بیشتر تمرکز خواهد داشت تا دسترسی به حداکثر اطفال تأمین شده و اطمینان حاصل گردد که همهٔ اطفال از این مرض ناتوان کننده محافظت شوند.**

پلان عملیاتی اضطراری ملی ۲۰۲۵ (NEAP) از طریق مشارکت هماهنگ میان برنامه جهانی محو پولیو (GPEI) و مقامات افغانستان تطبیق خواهد شد و رهبری آن را وزیر صحت عامه از طریق مراکز عملیات اضطراری به عهده خواهد داشت. برای تضمین مالکیت قوتیر، والیان ولایات و ریاست‌های صحت عامه در خط مقدم تطبیق این طرح در ولایات مربوطه قرار خواهند داشت.

## عوامل مؤثر بر وضعیت کنونی اپیدیمیولوژی

در حالی که ۱۳۵ ولسوالی از مجموع ۴۰۰ ولسوالی افغانستان در ده سال گذشته هیچ واقعه از پولیو را گزارش نکرده‌اند، ساحات کوچکی در حوزه جنوب و شرق کشور مسئول بیشترین واقعات مثبت ویروس پولیو و انتقال محلی آن بوده‌اند. این وضعیت ناشی از عوامل مختلف اجتماعی-جمعیتی و تفاوت در عملکرد برنامه در بخش‌های مختلف کشور است. برجسته ترین این عوامل عبارت اند از:

۱. **تراکم نفوس:** شیوع مرض پولیو، مانند سایر امراض قابل انتقال، در مناطق پرجمعیت رخ داده و دوام میابد، چنان که در نقشه زیر نشان داده شده است. برنامه محو پولیو تراکم نفوس را در دسته بندی ساحات مختلف از نظر خطر برای اقدامات هدفمند در سراسر کشور در نظر گرفته است.

۲. **شیوه اجرای کمپاین:** محدودیت‌ها در شیوهٔ کمپاین که منجر به بازماندن اطفال از واکسین میشود و به نوبهٔ خود خلا مصونیت را گسترش میدهد، یکی از عوامل مهم در تداوم انتقال ویروس پولیو به شمار میرود. از آنجایکه شیوه کمپاین محل به محل (S2S) مانع تک‌تک درب منزل و صحبت مستقیم با باشندگان میشود، اطفال خردسالی که هنوز قادر به راه رفتن نیستند، احتمالاً از واکسیناسیون باز می مانند و به گروه‌های واکسین نشده ها در میان آسیب پذیرترین گروه سنی افزوده می شوند. این امر می تواند باعث دوام و گسترش بیشتر گردش ویروس پولیو گردد.

۳. **نفوس سیار با خطر بلند (HRMPs):** نفوس سیار، به ویژه کوچی ها، مسافران که سفر طولانی میکنند، و کسانی که در مناطق سرحدی زندگی می کنند و رفت وآمد مکرر دارند، غالباً از خدمات وقایوی صحی از جمله واکسین پولیو باز می مانند زیرا تحرک دایمی آن‌ها معمولاً برنامه ریزی عملیاتی برای برنامه‌های صحی را دشوار می‌سازد. رفت و آمد گسترده جمعیت در امتداد مناطق مرزی بین

افغانستان و پاکستان باعث دوام و گسترش انتقال ویروس پولیو می گردد، چنان که ارتباطات ژنتیکی ویروس پولیو در دو سوی مرز تثبیت گردیده است.

٤. **پوشش پایین برنامه معافیت کتلوی (EPI):** درحالیکه واکسین‌های دوره طفولیت/ روتین باید اساس تلاش‌های محو پولیو باشد، ساحاتی که در کمپاین‌های واکسین پولیو پوشش پایین دارند، معمولاً در سایر برنامه‌های واکسیناسیون از جمله خدمات پروگرام معافیت کتلوی EPI نیز با چالش‌های مشابه عملیاتی مواجه اند. پوشش EPI در آسیب پذیرترین مناطق برای محو پولیو در پایین‌ترین سطح قرار دارد. برای نمونه، طبق سروی MICS سال های ۲۳-۲۰۲۲، پوشش ابتدایی EPI در قندهار ۲۹٪، ارزگان ۳٪ و هلمند ۸.٦٪ است – ولایاتی که همچنان در معرض بلندترین خطر برای ویروس پولیو قرار دارند.

## تنظیم مجدد استراتیژی‌های واکسیناسیون در مطابقت با کمپاین های محل به محل (S2S)

### ضرورت به تنظیم مجدد استراتیژی

در ماه می ۲۰۲۴، رئیس الوزرا اعلام نمود که واکسیناسیون خانه به خانه (H2H) در سراسر کشور اجازه داده خواهد شد (به جز شهر قندهار به دلیل نگرانی‌های امنیتی). این یک پیشرفت بزرگ برای برنامه محو پولیو بود، زیرا کمپاین های خانه به خانه معیار طلایی برای محو پولیو در سطح جهانی بوده و در تمامی کشورهایکه موفق به محو پولیو شده‌اند، از همین روش استفاده می‌گردد. این اقدام به ویژه برای حوزه جنوب اهمیت فراوانی داشت، جایکه کمپاین‌ها مدت‌ها در مسجد یا محل‌های مشخص محدود شده بود و دسترسی محدودی داشتند.
متأسفانه، در ماه سپتمبر ۲۰۲۴، وزارت امور داخله اطلاعیه رسمی مبنی بر «عقب‌گرد» ازکمپاین خانه به خانه صادر کرد و از آن زمان به بعد، کمپاین‌های واکسیناسیون پولیو تنها به شیوه محل به محل (S2S) محدود شده‌اند. این امر احتمال بازماندن تعداد قابل توجهی از اطفال، از جمله آسیب پذیرترین اطفال زیر یک سال، را افزایش می‌دهد؛ یافته های نظارتی کمپاین‌ها نشان می دهد که پوشش در ولسوالی‌هایکه از روش‌های مسجد یا ساحه محور استفاده می کنند، نسبت به روش خانه به خانه پایین تر است.
با این حال، برنامه محو پولیو بر بهبود شیوهٔ محل به محل (S2S) برای محافظت هرچه بیشتر اطفال افغانستان و توقف روند شیوع فعلی ویروس پولیو متمرکز خواهد ماند. این تغییر مسیر نیازمند رویکردهای ویژه در مناطق مختلف است.

**وضعیت حوزه شرق**

حوزه شرق که در سال های ۲۰۲۲-۲۰۲۳ به عنوان مرکز شیوع ویروس پولیو در افغانستان شناخته می‌شد، گام های قابل توجهی در جهت بهبود بخشیدن فعالیت های برنامه محو پولیو برداشته است. این اقدامات شامل استفاده از نیروی کاری تقریباً تماماً زنانه برای بسیج اجتماعی به منظور جلب مشارکت مادران و خانواده‌ها، به روز رسانی پلان‌های تطبیقی کمپاین (microplans) و کتابچه های ثبت اطفال برای تضمین پلان گذاری واضح جهت دسترسی به تمامی اطفال واجد شرایط، و تعیین استراتژیک ساحات ثابت در جریان کمپاین‌ها می باشد.
در نتیجه، پیشرفت چشم گیری در جهت پاکسازی ویروس در حوزه شرق حاصل شده و فرصت کلیدی برای متوقف ساختن انتقال بومی ویروس در این منطقه فراهم گردیده است. با این حال، این پیشرفت شکننده است و تلاش‌ها باید تسریع یابد تا منطقه از سطح پایین انتقال ویروس به صفر پولیو برسد.
اقدامات کلیدی برای تسریع این روند شامل کمپاین‌های استراتژیک fIPV، تعیین ساحات با عملکرد ضعیف با استفاده از GIS، تمرکز بر جذب افراد موثر محلی برای تقویت مشارکت اجتماعی و رسیدگی به مشکلات رد کنندگان از واکسین و ادامه افزودن زنان به صف مقدم نیروی کاری تا حدی که امکان باشد. با تطبیق سریع این روند، افغانستان هدف دارد تا انتقال بومی ویروس پولیو را در حوزه شرق تا نیمه سال ۲۰۲۵ قطع نماید.

**وضعیت حوزه جنوب**

حوزه جنوب همچنان پرخطرترین جغرافیا در افغانستان از نگاه شیوع ویروس پولیو باقی مانده است، زیرا بطور تاریخی منبع و تقویت کننده ویروس در سراسر کشور بوده است. سطح مصئونیت جمعیتی در این حوزه پایین است. به دلیل ضعف سیستم‌های واکسین معمول و دسترسی محدود کمپاین‌های پولیو از طریق واکسیناسیون مسجد و ساحه محور در سال‌های گذشته گروه بزرگی از اطفال در برابر مرض پولیو آسیب پذیر باقی مانده اند.
کمپاین‌های پولیو در حوزه جنوب تحت سخت‌ترین محدودیت‌ها اجرا شده‌اند، با توانایی محدود در ارزیابی تعداد و موقعیت اطفال زیر پنج سال، تعامل با زنان خانواده به دلیل نبود نیروی کاری زنانه در خط مقدم، و بهبود بخشیدن روش محل به محل (S2S) از طریق تعیین استراتیژیک ساحات ثابت در جریان کمپاین‌ها. ترکیب معافیت پایین و محدودیت‌های عملیاتی، حوزه جنوب را در معرض خطر شدید شیوع

پولیو قرار داده است که سلامت و آینده اطفال آسیب‌پذیر را نه تنها در جنوب بلکه در سراسر کشور تهدید می کند.
برای مقابله با این خطر و جلوگیری از گسترش به سایر مناطق، «تغییر مسیر» در استراتیژی محو پولیو به منظور بهبود بخشیدن روش کمپاین محل به محل (S2S) و تقویت واکسیناسیون‌های فرامرزی در جنوب حیاتی خواهد بود.
استراتیژی محو پولیو در سال ۲۰۲۵ باید زمینه‌های گسترده تری را نیز در نظر بگیرد، از جمله: تحول در حال تغیر ژئوپولیتیک در سطح منطقه و جهان، ورود پیش بینی شده مهاجرین عودت کننده از پاکستان، و افزایش محدودیت‌های مالی بر ابتکار جهانی محو پولیو GPEI، که در صورت عدم پیشرفت اپیدمیولوژیک ملموس در افغانستان در سال ۲۰۲۵، به واسطه تمویل کنندگان تشدید خواهد شد.
این سند یک مرور کلی از نقاط عطف برنامه محو پولیو در افغانستان، اقدامات کلیدی برای بهبود بخشیدن روش کمپاین محل به محل (S2S) و تاکتیک های تکمیلی برای حداکثرسازی دسترسی، و پلان‌های نظارتی در زمینه اپیدمیولوژی (نظارت) و تطبیق برنامه (M&E) ارائه می دهد. اقدامات و پلان ها ممکن است بر اساس تحول در اپیدمیولوژی و زمینه‌ها تعدیل گردند.

## تعریف موفقیت

